محسن

د قرآني زده کړې او پوهنې لړۍ

۱۰۰

# محسن تفسیر

په پښتو

# ۱۰۰ ـ د «عادیات» سورت

ژباړه او څېړنه :

احمد حسین «عنایت»

د عادیات سورت تشریح
ژباړه او څېړنه:
احمد حسین عنایت

بسم الله الرحمن الرحیم
د لوراند او لورین الله په نامه
سورةالعادیات

# د عادیات سورت (۱۰۰)

د «عادیات» سورت مکي دی ( ۱۱) آیتونه یوه رکوع لري په تلاوت کې (۱۰۰) ام سورت دی. او په مکه کې د نازل شوو ړومبنیو سورتونو پورې اړه لري.

ددې سورت په مکې او مدني والي کې د مخکینیو تر منځ اختلاف دی. حضرت عبدالله بن مسعود، جابر، حسن بصري، عکرمه او عطاء وايي چې دا سورت مکي دی، حضرت انس بن مالک او قتاده وايي چې دا سورت مدني دی او له حضرت عباس څخه دوه قوله نقل شوي دي په یو قول کې وايي چې دا سورت مکي دی او په بل قول کې وايي چې مدني دی لیکن د سورت مضمون او د بیان انداز یې په واضحه او بریښنده توګه څرګندوي چې دا سورت نه یوازې دا چې مکي دی بلکې په مکه کې هم د لومړني پېر نازل شوو سورتونو څخه دی .

له مخکیني سورت سره یې اړیکه:

د تلاوت په لړ کې له دې څخه مخکینی سورت «زلزال » دی ددې دواړو سورتونو [زلزال او عادیات] تر منځ تړاو او ورته والی – د قیامت او حساب په ورځ کې د انسان د کړنو، انګېزو او انګېرنو د څرګندېدو او لواړېدو، او هاغه څه چې په دنیايي ژوند کې یې سر ته رسولي دي د نندارې وړ کېدلو په ډګر کې – په ښکاره او څرګنده توګه بریښي. د «خبر» موضوع چې په دنیايي ژوند کې د انسان له چلنده آګاهي ده په هر دواړو سورتونو کې په یو ډول نه یو ډول مطرح شوې ده او د هاغو «خبرونو [اخبار]» له برملا او ښکاره کېدلو څخه چې په هر حال کې د خدای تعالی په علم کې دي یادونه کوي:

زلزال: يَوْمَئِذٍ تُحَدِّثُ أَخْبَارَهَا. بِأَنَّ رَبَّكَ أَوْحَى لَهَا.
عادیات: أَفَلَا يَعْلَمُ إِذَا بُعْثِرَ مَا فِي الْقُبُورِ. وَحُصِّلَ مَا فِي الصُّدُورِ. إِنَّ رَبَّهُمْ بِهِمْ يَوْمَئِذٍ لَخَبِيرٌ.

په دې ترتیب هاغه پالونکی ښتن چې د انسان ټولو نسبتونو او تړاوونو ته «خبیر» دی، د دننیو رازونو د برملا کېدو په ورځ کې، ځمکې ته وحی کوي چې خپل «خبرونه» حدیث کړي.

ددې دوو سورتونو تر منځ بل ورته والی «له قبرونو څخه د راپاڅېدو» په موضوع کې دی چې د زلزال په سورت کې له هغه څخه د خپلو کړنو او عملونو د نندارې لپاره روانیږي او د عادیات په سورت کې د هاغه څه له اوچتېدو او پورته کېدلو څخه خبره کوي چې په قبرونو کې دي:

زلزال : يَوْمَئِذٍ يَصْدُرُ النَّاسُ أَشْتَاتًا لِيُرَوْا أَعْمَالَهُمْ
عادیات : أَفَلَا يَعْلَمُ إِذَا بُعْثِرَ مَا فِي الْقُبُورِ. وَحُصِّلَ مَا فِي الصُّدُورِ.

د هر دواړو سورتونو په پورتنيو آيتونو کې د «صدر» کليمه کارول شوې ده چې په لومړني سورت کې «يصدر» يعنې د فعل په بڼه او په دويم سورت کې «صدور» يعنې د اسم د جمع په بڼه ځرګندېږي.

د هاغه څه چې په سينو کې دي، د «محصول»، تحقق موندلو، نتيجې او پايلې ته د رسېدلو مسئله [وَحُصِّلَ مَا فِي الصُّدُورِ] چې له ځينو اړخونو څخه په دنيايي ژوند کې د خلق شوو او مکتسبه صفتونو له اړخه د انسان ملکه کېدل دي، چې هم د انسان په اړه صادق او ريښتيني دي او په آخرت کې تحقق مومي، او هم د ځمکې په اړه له داسې تحولاتو سره، چې هر هاغه څه چې په سينه کې (دننه) لري د يو ډول «اثقال» په بڼه چې د ميلياردونو کلونو په اوږدو کې د هغې د پرله پسې فيزيکي او کيميائي فعل او انفعالاتو نهائي محصول دی، بيرون اچوي ... وَأَخْرَجَتِ الْأَرْضُ أَثْقَالَهَا.

د «زلزال» په سورت کې د ځمکې له نهائي «محصوله» او د عاديات په سورت کې د انسان له نهائي «محصوله» خبره کوي.

او په پای کې دا چې هر دواړه سورتونه د «انسان» [يا ناس] په سرليک او تخليق پاملرنه لري:
زلزال: وَقَالَ الْإِنْسَانُ مَا لَهَا ـ يَوْمَئِذٍ يَصْدُرُ النَّاسُ...
عاديات: إِنَّ الْإِنْسَانَ لِرَبِّهِ لَكَنُودٌ.

له دې سره سره په دواړو سورتونو کې منحصراً د «رب» نوم [په مضاف بڼه] کارول شوی دی، چې د «ربوبيت» او د انسان د روزنې او ودې په چارو کې د پالونکي څښتن د حکيمانه تدبير پر مسئله د دواړو سورتونو مشترک ټينګار ځرګندوي.
زلزال: بِأَنَّ رَبَّكَ أَوْحَى لَهَا.
عاديات: إِنَّ الْإِنْسَانَ لِرَبِّهِ لَكَنُودٌ. وَإِنَّهُ عَلَى ذَلِكَ لَشَهِيدٌ.

## د سورت د مضمونونو محور او ويشنه:

دا سورت د داسې صحنو په انځورولو پيل کېږي چې له بيړې، ګړنديتوب، له ګړندی ځغاستې، د ډېر توند او ګړندي ځغل او تاخت په نتيجه کې له پرشهار او سونهار سره د آس له لنډې لنډې ساه اخېستلو، او د سُمونو له لګېدو څخه يې پر ځمکه او ډبرو د جرقو، بځرکو او سپرغيو له اوچتېدو، له خاورو څخه د ګرد او دوړو له پورته کېدو او پر آسونو د سپرو په توسه يرغل او د دښمن د ټولېدو منځته له ننوتو او لوټمار څخه حکايت کوي او داسې يو مهال او چاپېريال انځوروي چې ګهيځ ته نژدې د شپې وروستی پار دی، لا تياره غوني ده داسې يو وخت دی چې دښمن لاويده دی او د شبخون په څېر يرغل ته مناسب وخت دی.

خو په مقابل کې يې همدا انسان چې د يرغل، او لوټمار لپاره دومره زيات فعال، ويښ او بيدار دی، د الهي چارو په اړه لټ او پخچاری دی. دا هم په داسې حال کې چې خپل ځان ښه پيژني، او د مال او مرکب په تړاو ډېر مينه وال دی. خو آيا له دې خبر نه دی چې يوه ورځ به هر څه له قبرونو رابهر شي، او د انسان د جسد تجزيه شوې برخې به راټولې او بل ژوند به ورته په برخه شي په داسې ورځ به د انسان د ټېر ژوند ټولې پټې او ښکاره چارې بربنډې او بربښنده شي، چې «رب» په دې ورځ او په هر حال له هر څه خبر دی.

دا سورت د ډول او متغیر سبک پر حساب چې د هغه د آیتونو په منځني اوږدوالي او د آیتونو په پایاني آهنګ کې هم څرګند دی کولی شو په دریو لاندینیو برخو کې وڅیړو:

۱ ـ ۱ تر ۵ آیتونو کې یې سوګند او اړوند صحنې دي [دوه کلیمه ای جملې چې په الف پای ته رسیږي]:

سوګند: وَالْعَادِيَاتِ ضَبْحًا «سوګند پر ګړندیو ځغلنده آسونو چې په پرشهار لنډه لنډه ساه اخلي »

د سوګند صحنې [۴ ځله د تفریع له فاء سره]:

فَالْمُورِيَاتِ قَدْحًا «بیا پر هاغې چې له سُمه یې د تیږو پر لګېدو سپرغۍ پورته کیږي»

فَالْمُغِيرَاتِ صُبْحًا «او پر هاغه یرغل [تاړاک او لوټمار] چې ګهیځ مهال یې وروړي»

فَأَثَرْنَ بِهِ نَقْعًا «او پر هاغه ګرد او دوړو چې د برید پر مهال یې اوچتوي»

فَوَسَطْنَ بِهِ جَمْعًا «او پر هاغه یرغل [او تاړاک] چې د دښمن د ټولي منځ کې ورننوځي»

۲ ـ ۶ تر ۸ آیتونه کې د سوګند نتیجه ده [څلور کلیمه اي جملې چې د «دال» په توري ختمیږي]:

د سوګند ځواب [درې ځله د انّ له ټینګار سره]:

إِنَّ الْإِنْسَانَ لِرَبِّهِ لَكَنُودٌ «په تحقیق انسان د خپل رب لپاره نا شکره [لټ او پخ] دی»

وَإِنَّهُ عَلَى ذَلِكَ لَشَهِيدٌ «او دا چې هغه پر[خپل] داسې حالت بشپړ ګواه[ناظر او شاهد] دی»

وَإِنَّهُ لِحُبِّ الْخَيْرِ لَشَدِيدٌ «او دا چې هغه د خپلو ګټو لپاره ډېر مینه وال [او هڅاند] دی»

۳ ـ ۹ تر ۱۱ آیتونه کې رټنیز ډوله پوښتنې دي [۴ تر ۶ کلیمه اي جملې چې د «ر» په توري ختمیږي]:

رټنیز ډوله پوښتنې:

أَفَلَا يَعْلَمُ إِذَا بُعْثِرَ مَا فِي الْقُبُورِ «آیانه پوهیږي پر هغه مهال چې هرڅه په قبرونو کې دي راوایستل به شي»

وَحُصِّلَ مَا فِي الصُّدُورِ «او هاغه څه چې په سینو کې دي ښکاره [اوحاصل] به شي »

إِنَّ رَبَّهُمْ بِهِمْ يَوْمَئِذٍ لَخَبِيرٌ «په تحقیق د هغوی رب په هاغه ورځ کې پر هغوی ډېر آګاه دی»

ددې سورت لومړنی سوګند د ګړندیو آسونو د یرغل پرمهال له پرشهار، سوړهار او شنهار سره د لنډې لنډې ساه اخېستلو پرحالت دی، هاغه حالت دی چې آسونه له ګړندۍ ځغاستې، ځغل او تاخت وروسته ستړې ستړي او ساه ساه کیږي او لنډه لنډه ساه اخلي چې ورپسې له څلورګونو صحنو او انځورونو سره [د تفریع له فاء سره] له مختلفو اړخونو ښه څرګند شوي دي؛ چې له تیږو سره د آسونو د سُمونو له لګېدو د سپرغیو اوچتېدلو، ګهیځ مهالي تاخت کولو، د یرغل له شدت او ګړندیتوبه د ګرد او دوړو اوچتېدلو او د دښمن په زړه او د هغوی د ټولېدو په مرکز کې ورننوتلو او ځای پر ځای کېدلو ته اشاره شوې ده.

دا صحنې چې ظاهراً د تکړه توب او په بیړه د عمل او کړنو حالت ته اشاره کوي، د لوستونکو د خیال او فکر لیږدوونکی هم په زړه پورو او د شجاعت، غیرت او عزت صحنو ته او د الله په لاره کې د مبارزې او جهاد ډګر ته، چې د انسان په فطرت کې زمینه لري [ خو غالباً پالنه نه مومي یا سرکوب کیږي ] مخه کوي او متوجه کیږي.

ګواکې پر همدې لامل هم پخوانیو مفسرینو، او له هغوی څخه په تبع او پلیونۍ ورپسې مفسرینو پرته له دې چې کومه قرینه په سورت کې شتون ولري، ددې سورت سوګندونه یې د مجاهدینو آسونو [یا د حاجیانو اوښانو] ته منطبق کړي دي او له هغه یې د مجاهدو مؤمنینو په شان کې ستاینه او تمجید استنباط

کړی دی. په داسې حال کې چې د ډيرو دليلونو له لامله چې وروسته به په تشريح کې ورته اشاره وشي چې دا ډول برداشتونه او لاسته راوړنې سمې نه بريښي او نه شي کولی قانع کوونکي اوسي.

له سوګند او ورپورې د اړوندو صحنو او حالتونو له مطرح کولو وروسته درې آيتونه چې د سورت د پيل سوګندونو ځواب دی، په بريښنده او په آګاهانه توګه د انسان ناشکري، بې همتي، سترګې پټونې، له سره اړونه، لټي، او يخ چاري په هاغو چارو کې چې د هغه په پالونکي ښښتن [رب] پورې اړه لري چې د انساني ودې، روزنې او کمال لامل کيږي، څرګندوي، ولې؟

ځکه چې زړه يې پر محبوب مين او دهغه لور ته مايل او خالص نه دی، په داسې حال کې چې همدا انسان د «آس» په اړه چې يو چابک ځغاستونکی او خوځنده ګړندی مرکب دی چې د هغه جسم په بيره د پرمختګ، ګړنديتوب او لوټمار لور ته رسوي ډېر مين او زړه بايللی دی، او په مقابل کې يې پر پالونکي ښښتن د ايمان له مرکب او ليږدوونکي سره دومره مينه نه لري. [په داسې حال کې چې د ايمان مرکب او ليږدوونکی د هغه روح د پرمختګ او ګړنديتوب په ډګرونوکې د الهي مغفرت او رحمت پر لور ليږدوي] (و انه لحب الخير لشديد).

لومړنيو مجاهدينو پر قرآني روزنې د تکيه کولو پر بنسټ، په پيل کې به يې دښمن ته د اسلام يا سوله ايز ګډ ژوند پر لور بلنه ورکوله او د هغوی د تعرض او تجاوز په صورت کې به يې دفاع پيل کوله. څنګه کېدی شي خدای تعالی په يو سورت کې د جهاد له موخې هدف، انګيزې، علت او اُصولو پرته خبره کړې وي؟

د سورت مطالب، موضوع او محور، [لکه د تېر شوي او راتلونکي سورتونو په څېر]، انسان ته د هغه د کړنو د پايلو په اړه وېښتيا وزمه ګواښنه او رټنه ده، او هغه له ويښوونکي او ګواښنده لحن او انداز سره تر رټنې، ګواښنې او دګنې لاندې نيسي. [أَفَلَا يَعْلَمُ إِذَا بُعْثِرَ مَا فِي الْقُبُورِ]
په داسې حال کې چې د مجاهدينو له آسونو څخه ستاينه او تشويق وزمه يادونه د سورت له نهائي پايلې او نتيجې اخيستنې سره بې تناسبه بريښي.

په وروستنيو دريو آيتونو کې انسان ته د هغه د نيمګړو، ناسمو او منحرفو عملونو نتيجه او پايله څرګندوي او ورته ګواښنه او آګاهي ورکوي چې ته چې د خپلو دنيايي کارونو او ګټو په اړه دومره فعال يې چې د آسونو په توسه د لوټمار لپاره په بيړه او چابکۍ، خپلې موخې او د دښمن منځته ځان رسوي خو ددې پر خلاف د الهي چارو په اړه لټ او ناشکره يې پوه شه چې د قيامت په ورځ به هر هغه څه چې په قبرونو کې دي راڅرګند شي او په سينو کې پټ رازونه به رابر سېره شي، چې ستا رب پر دې ټولو ښه آګاه او خبر دی.

ددې سورت موخه او مقصد د خلکو پوهول دي پر دې چې له آخرته منکر انسان څرنګه له دې غافل کيږي او څرنګه د ټيټو اخلاقو په کندو کې غورځيږي، او له دې سره سره، له دې هم د خلکو خبرول دي چې په آخرت کې يوازې د هغوی له ظاهري او څرګندو کړنو څخه نه، بلکې د هغوی په زړونو کې د پټو کړنو او ناڅرګندو اسرارو تر بريده هم معاينه، ازموينه او تولونه کيږي او له پټو رازونو يې پرده اوچتيږي.

ددغه مقصد د توضیح لپاره یې په عربو کې خپرې شوې عامې بد امنۍ د دلیل په توګه وړاندې کړې دي. چې له لامله یې ټوله سیمه په تنکسه کې وه هر لور ته وژنې او وینې تویونې دود ول، د لوټ او لوټمارو بازار تود وو ، قبیلو پر نورو قبیلو چاپې غورځولې او هیڅاهم شپه په آرامه او سوکاله توګه نه شوه تېرولی ځکه چې هر مهال داسې اندېښنو شتون درلود چې کله به هم کوم دښمن ګهیځ مهال وختي په کلي، مېنه او ټاټوبي راوغورځي او یرغل به وکړي. دا داسې یو حالت وو چې د عربو ټول خلک پرې پوهېدل او دا بدي او بدمرغي یې احساسوله. سره لدې چې لوټ کړل شوو به پرې ماتم کاوه او لوټ کوونکو به پرې خوښي څرګندوله او ویاړ به یې کاوه.

خو کله به چې د کومو لوټوونکو د بدمرغۍ نوبت راته نو هغوی به هم دا محسوسوله چې دا څومره ناوړه او بد حالت دی چې زموږ خلک، ټولنې او پرګنې پرې اخته دي. ددغې حالت بنې ته په اشارې کولو دا ویل شوي چې له مړیني وروسته له بیا ځلې ژوند او د الله په وړاندې له ځواب ورکولو څخه په ناخبرۍ انسان د خپل پالونکي څښتن (رب) په اړه ناشکره او لټ شوی دی، هغه د الله له لوري ورکړل شوي ځواکونه د یرغل، تاړاک، لوټمارۍ، تیرې او پسات لپاره کاروي، هغه د مال، شتمنیو، پانګې او بډاینې په مینه او محبت کې دومره ړوند شوی دی چې په هره طریقه او وسیله د هغې د لاسته راوړلو لپاره هڅه او کوښښ کوي که څه هم هغه ډېره ناپاکه، ناوړه او پرېوتې طریقه وي، او د هغه خپل حالت هم ددې شاهدي ورکوي چې هغه د خپل پالونکي څښتن (ربّ) له لور د ورکړل شوو ځواکونو او قوتونو په غلطې طریقې له کارونې سره ناشکري کوي، د هغه به دا چلند کله هم نه وای چې که هغه پر دې پوهېدی چې یو مهال به له قبرونو ژوندی شوی پاڅیږي، او هغه مهال به د هغه ټولې کړنې له ارادې او غیر ارادي غرضونو، مقصدونو او پټو رازونو تر بریده د هغه له سینو بهر شوې مخې ته کېښودلې شې، د کومو په توسه او تحریک به چې هغه په دنیا کې راز راز کړنې سر ته رسولې. پر دې مهال به د انسانانو رب ته تر ټولو ښه معلومه وي چې څوک له کومو کړو وړو سره راغلی دی او له چا سره څرنګه چلن ښایي وشي.

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ
وَالْعَادِيَاتِ ضَبْحًا ﴿۱﴾
فَالْمُورِيَاتِ قَدْحًا ﴿۲﴾
فَالْمُغِيرَاتِ صُبْحًا ﴿۳﴾
فَأَثَرْنَ بِهِ نَقْعًا ﴿۴﴾
فَوَسَطْنَ بِهِ جَمْعًا ﴿۵﴾
إِنَّ الْإِنْسَانَ لِرَبِّهِ لَكَنُودٌ ﴿۶﴾
وَ إِنَّهُ عَلَى ذَلِكَ لَشَهِيدٌ ﴿۷﴾
وَإِنَّهُ

وَالْعَادِيَاتِ سوګند پر هغو [آسونو] چې ګړندي ځغلي ـ الْعَادِيَاتِ:[عادیات د عادیه جمع، د عدو له ریښې]: [د آس] څلور نعله ځغاسته، تیزتګ او ګړندي [آسونه]، په بیړه ځغلېدونکي [آسونه]، له یوه کاره منصرف کېدل او هغه پرېښوول، پر یو څیز یر غل کول، له خپله بریده او سرحده تېری کول، پر یو چا ستم یا تېری کول ـ ضَبْحًا: ضبح[د آس]حمحمه، سوړهار، له ګړندۍ ځغاستې وروسته پرله پسې ساه ساه کېدل، چې په پرشهار لنډه لنډه ساه اخلي، د [آسونو]د ساه اخېستلو غږ، ساه ساه کېدل، ستړي شوي ـ الْمُورِيَاتِ:د موریه جمع، د وری له ریښې: له تیږې یا لرګي څخه جرقه او سپرغۍ پورته کېدل یا اور راوتل، هاغه [آسونه]چې جرقه [سپرغۍ] رامنځته کوي، هغه آسونه چې اور پورته کوي ـ قَدْحًا: پر تیږو د سُمونو له لګېدو سره یې، [پر ځمکه] د سُم پر وهلو ـ قدح: یو چاته پېغور ورکول، د عیبونو لټول، د مهر ماتول، د سترګو ژوړېدل، د ښورو ګوډل، د اور د پیدا کولو لپاره د تیږو یا لرګو یو پر بل وهل ـ الْمُغِيرَاتِ: [آسونه] چې نابېره یرغل کوي، یرغل کوونکي، غارت [لوټ] کوونکي ـ صُبْحًا: ګهیځ

| | |
|---|---|
| لِحُبِّ الْخَيْرِ لَشَدِيدٌ<br>﴿۸﴾أَفَلَا يَعْلَمُ إِذَا بُعْثِرَ<br>مَا فِي الْقُبُورِ﴿۹﴾ وَ<br>حُصِّلَ مَا فِي الصُّدُورِ<br>﴿۱۰﴾ إِنَّ رَبَّهُمْ بِهِمْ<br>يَوْمَئِذٍ لَخَبِيرٌ ﴿۱۱﴾ | مهال ـ أَثَرْنَ: اوچتوي ـ نَقْعًا: ګرد او دوړې ـ النقع: راټولېږ شوي اوبه، د اوبو د راټولېدو ځای، هغه بخار چې لکه د اوبو په څېر ونغاړي، د غبړ [فریاد] پورته کول ـ فَوَسَطْنَ... جَمْعًا: [د دښمن] د ټولي په منځ کې راخرګند شي ـ وَسَطْنَ: په منځ کې داخل شي ـ كَنُودٌ: ډېر ناشکره، د خیر مخنیوونکی، بخیل، هاغه څمکه چې پکې هیڅ څیز نه ټوکیږي، هاغه څوک چې له مصیبتونو فریاد کوي او نعمتونه له یاده باسي، ګواکې د کُند مبالغه ده، ډېرکند، ډېر لټ او پخ ـ شَهِيدٌ: ګواه، شاهد، ناظر، نندارہ کوونکی ـ لِحُبِّ: د مینې له کبله، په دوستۍ کې ـ الْخَيْرِ: شتمني، آس [او هر هغه څه چې ګټور دي] ـ شَدِيدٌ: په سختۍ، بخیل، سرسخت ـ بُعْثِرَ: اوچت شي، لاندې باندې شي ـ الْقُبُورِ : قبرونه ـ حُصِّلَ: ښکاره شي، لاسته راوړل شي، بېل کړل شي، حاصل شي ـ الصُّدُورِ:سینې ـ خَبِيرٌ: آګاه، ډېر خبر، |

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ

**وَالْعَادِيَاتِ ضَبْحًا﴿۱﴾**

سوګند پر [چابکو او چټکو] ځغلنده [آسونو][۱] چې [د ځغلېدو پر مهال] په پرشهار [او سونږهار] لنډه لنډه ساه اخلي،[۲]

**فَالْمُورِيَاتِ قَدْحًا﴿۲﴾**

سوګند پر هغو [آسونو] چې پرځمکه [او پر تیږو] د خپلو سُمانو له لګېدو سره د اور سپرغۍ[او بڅرکي]اوچتوي.[۳][په بیړه ناکه ځغاسته کې چې سُمان په درز پر ځمکه وهي]

**فَالْمُغِيرَاتِ صُبْحًا﴿۳﴾**

او پر ګهیځ مهالو [نابره] بریدګرو [او لوټمارو][۴][د آسونو له چټکې ځغاستې، بیړې پرشهار، سونږهار او شنهار سره]،

**فَأَثَرْنَ بِهِ نَقْعًا﴿۴﴾**

او پر دې [ګهیځ مهالي] د دوړو او خاورو پر پورته کوونکو.[۵]

**فَوَسَطْنَ بِهِ جَمْعًا﴿۵﴾**

چې [له داسې بیړې او نابره یرغل سره] د ټولو [= یوې قبیلې] منځ کې ځای نیسي.[۶]

| وَالْعَادِيَاتِ | ضَبْحًا | فَالْمُورِيَاتِ | قَدْحًا |
|---|---|---|---|
| سوګند پر [چابکو] ځغلندو [آسونو] | په پرشهار لنډې لنډې ساه اخېستونکي | او پر سپرغۍ اوچتونکو | د سومونو پر لګېدو يې له تیږو سره |

| فَالْمُغِيرَاتِ | صُبْحًا | فَأَثَرْنَ بِهِ | نَقْعًا | فَوَسَطْنَ بِهِ | جَمْعًا |
|---|---|---|---|---|---|
| او پر[نابره]بریدګرو[لوټمارو] | ګهیځ مهالي | نو پورته کوي پر دې[سُمونو] | ګرد او دوړې | او ننوځي منځ ته پر هغه مهال | په ډله کې |

دا سورت لکه څنګه چې مخکې مو وويل د ډول او متغير سبک پر حساب چې د هغه د آيتونو په منځنۍ اوږدوالي او د آيتونو په پاياني آهنګ کې هم څرګند دی کولی شو پر دريو بېلو برخو کې وڅېړو هر درې واړه برخې يو د بل لپاره ډګر او بنسټ برابروي:

لومړني پنځه آيتونه د قسم او د قسم پورې اړوند صحنو او چاپېريال پورې اړه لري چې مکي سورتونو ته اړوند په ځانګړې خوږه لهجه بيان شوي او د قرآن په خاص انداز د هاغه زمان او مهال، مکان او چاپېريال ښه انځوروي:

وَالْعَادِيَاتِ ضَبْحًا. فَالْمُورِيَاتِ قَدْحًا. فَالْمُغِيرَاتِ صُبْحًا. فَأَثَرْنَ بِهِ نَقْعًا. فَوَسَطْنَ بِهِ جَمْعًا.

وَالْعَادِيَاتِ. سوګند پر «عاديات». عاديات د «عادية» جمع ده د «عَدْو» څخه[د صبْر پر وزن]، په اصل کې د تېرېدلو او بېلېدلو په معنا دی، هغه که په باطني توګه د زړه له تله وي، چې «عداوت» ورته وايي، او يا که په خارجي حرکت کې وي، چې هغه ته «عدْو» [ځغلېدل] ويل کيږي، او کله هم په معاملو کې چې «عدوان» نومول کيږي، چې دلته ترې مطلب هماغه په بيړه ځغاسته ده. نو عاديات تيزتګو او ګړنديو آسونو ته ويل کيږي لکه څنګه مو چې ددې لغوي معنا ته اشاره وکړه. وايي سوګند پر هاغو آسونو دی چې څلور نعله پر تاخت ځغلي. چې په پرله پسې توګه د تاريخ په اوږدو کې، د الوتکو او ټانک او د موټرو او ماشيني آلاتو له اختراع مخکې، په جنګونو کې ګړندی ترين مرکب او لېږدوونکي دي، او د ځينو د قول پر اساس د بشري ټولنو د سرليک ټاکونکي دي.

عادية، چې د «تعدی»، عدْو، عداوت او ... له کلېمې سره – د تيري په معنا – هم ريښه دی او د هغه په ټولو مشتقاتو کې په يو ډول له حده تېرېدل او بيړه، تېزوالی او شدّت نغښتی دی. په ټوليزه توګه هر هغه څيز چې په بيړه او تلوار ګړندی حرکت کوي؛ فرض کړئ د هاغو موټرو په څېر چې د ګړنديتوب په مسابقه کې يو تر بله سيالي کوي.

هاغه مهال چې موټر نه ول، د ځغلنده ګړنديو آسونو په توسه به يې مسابقه کوله. په تېره کې، آسونو د بشر لپاره ډېر ارزښت درلودلی دی تر دې بريده چې په جګړو کې بريالیتوب او ماتې پر دې ځناور پورې تړاو درلودلی دی.

په اروپا او هم د نړۍ په نورو ځايونو کې يې، آس ګړندی ترين لېږدوونکی ګاڼه او له همدې لامله آس پخپله د ګړنديتوب سمبول، نښه او کچه ګڼل شوی ده. او په فزيک کې هارس پاور [Horsepower] د توان او ځواک د واحد په توګه کارول کيږي. چې معمولاً په تخنيک کې د ماشين او موټر د ځواک د پايلې او حاصل د څرګندولو لپاره کارول کيږي.

عربي آسونه د آسونو مشهورترين نژاد دی او ددې آيتونو د نزول معاصرين د «عاديات» په اهميت چې د سوګند له واو سره راغلی په بهتره توګه واقف ول. او له دې مخکې يې د آس په توسه ددې ډول يرغلونو راز راز پړاوونه ليدلي ول.

وَالْعَادِيَاتِ ضَبْحًا. له پرشهار او سونهار سره د لنډې ساه اخېستووالا پر ځغلېدونکو قسم ـ «ضَبْح» [د مدْح پر وزن] د [آس] توندې او په بېړه ژر ژر ساه اخېستلو ته وايي چې د هغه د ځغاستې پر مهال يې غږ تر غوږه کېږي. يعنې حمحمه او په پرله پسې توګه ژرژر ساه اخېستلو ته ويل کېږي چې په بېړه او ګړندی توګه له تاخت او ځغاست وروسته ځرګندېږي.

د «ضَبْح» کليمه يوازې يو ځل په قرآن کې کارول شوې ده. يعنې د لنډې لنډې ساه اخېستلو حالت. سپي به مو ليدلي وي کوم مهال چې په بېړه ګړندی منډه کوي او ساه يې لنډه لنډه کېږي څه ډول هه لَه، هه لَه، کوي، آس هم همدا راز د تاخت پر مهال له پرشهار او سونهار سره لنډه لنډه ساه اخلي پرشېږي او سونهېږي.
په دې آيت کې د ځناور پر همدغه حالت قسم ياد شوی دی؛ چې په بېړه، چټک او ګړندی د تاخت په حالت کې دی او د خپلې انرژۍ او ځواک پای تر پاياني بريده کاروي. د سورت ړومبنی آيت د قسم له «واو» سره پيل شوی دی او پاتې نور څلور آيتونه يې د تفريع له «فا» سره، يعنې د هغوی د ګړندي او بېړه ناک تاخت په پايله کې، پر داسې حالتونو يې سوګندونه ياد شوي دي چې ټول پر سرعت او شتاب ټينګار کوي.

فَالْمُورِيَاتِ قَدْحًا. «سوګند پر هغوی چې اور پورته کوي»، پر ډبرينه ځمکه د ځغاستې پر مهال له خپلو سُمونو څخه د سپرغيو پر ايستونکو قسم.«مُورِيات»د موريه جمع د «ايراء» يا د «وری» له مادې د اور لګولو يا له يو څيز څخه د اور د را ويستلو په معنا، هاغه جرقه يا سپرغۍ ده چې له تيرې سره د مرکب د سُمّ پر لګېدو رامنځته کېږي.

دا کليمه يو ځل بل هم په قرآن کې راغلې ده: آيا هيڅکله مو هاغه اور ته چې تاسو يې بلوئ [له پاملرنې او ځيرتيا سره]کتنه کړې ده؟ «أَفَرَأَيْتُمُ النَّارَ الَّتِي تُورُونَ» [واقعه ۷۱(۵۶:۷۱)] آيا هغه اور ته مو، چې بلوئ يې، ورکتلي دي [=پاملرنه مو ورته کړې]؟

«قَدح» يعنې د دوو څيزونو تر منځ تصادم او يو تر بله لګېدل چې په پايله کې اور يا سپرغۍ ترې پورته شي. لکه د لرګو يا ډبرو په څېر چې په سختۍ يو پر بل ووهل شي او د هغوی له لګېدو څخه جرقه يا سپرغۍ پيدا کېږي.

آسونه هم هاغه مهال چې په بيړه ځغلي، پر ځمکه يې د نعلونو له لګېدو څخه بځرکي او سپرغۍ پورته کيږي. خو دا چې سپرغۍ يې له ورايه بربښي پر دې دلالت کوي چې دا آسونه د شپې په تياره کې ځغلي ځکه چې بځرکي اوسپرغۍ په بربښنده توګه په تياره کې ښه ځرګنديږي. لنډه دا چې سوګند په حرکت کې پرداسې بيړه اوګړنديتوب دی چې اورپورته کوي. وسمهال هم ددې لپاره چې وغواړي د موټرو اوچت او ډېر سرعت ځرګند کړي، دومره ګړندي يې ځغلوي چې له ايګزاس Exhaust څخه يې اور ځرګنديږي. نو په واقعيت کې دا اور يا جرقه او سپرغۍ د ګړنديتوب شدت ګڼل کيږي دا يې لومړنۍ پايله.

دويم: فَالْمُغِيرَاتِ صُبْحًا. «قسم پر هغو چې د ګهيځ له ځرګندېدو سره سم پر دښمن يرغل کوي»، پر ګهيځ مهالو لوټمار کوونکو سوګند، [مغيرات] د «مغيره» جمع د «اَغَار» له مادې څخه، پر دښمن د يرغل او حملې په معنا دی، او لکه څنګه چې کله کله دا حمله او يرغل د مالونو او توکو د لوټ کولو او اخېستلو په موخه ښه نيسي موږ هم په خپله ژبه کې دا لغت د غارت کولو په ښه د نورو دمالونو د لوټ کولو او اخېستلو لپاره کاروو. نو «مغيره» له «غارت» او «تغيير» سره له يوې ريښې دی.

«مُغِيرَات» د مغيره جمع [يرغل کوونکي]، د غور له ريښې [په ځمکه کې د اوبو ننوتل او په مسئلو کې تفکر کول]، په بيړه او ګړندۍ توګه يرغل کوونکو ته ويل کيږي چې د يوې قبيلې د لوټ کولو او غارت لپاره به يې پر هغوی شبخون کاوه.

د «مُغِيرَات» فعل په ځرګنده توګه له غارت څخه، چې د عربانو عادت وو، حکايت کوي، د فعل ارجاع ورکول د هغه ريښې ته، چې د ګړندي يرغل بيانګر دی، منطقي نه بريښي.
نو «مغيره» يعني هر هغه ځيز چې تغير، بدلون او تحول رامنځته کړي. د «صُبحاً» د حال وصف، له تياره څخه د رڼا ولور ته د مهال د تغير بيانوونکی دی چې مقابل طرف يې مخکې له دې چې راپاځيږي او اوچت شي او خپل ځان نېغ کړي چې د دفاع لپاره چمتو شي د سپرو له يرغل سره مخامخ کيږي.
دا د عربو د قبيلو وصف دی چې له يوې مخې تهول د يو پر بل په شبخون، وژنه او لوټمار کې اخته ول. په تېرو زمانو کې به سپرو سرتېرو ګهيځ مهال، يعنې سهار د وخته چې لا هوا تياره ده، يرغل پيل کاوه. يعنې هاغه مهال چې دښمن لا ويده دی په خوب کې دی. شبخون ته ورته يو ځيز چې دا اصطلاح به مو هرو مرو اوريدلې وي. نو دا، د يرغل او لوټ کولو پيل دی.
دا دويمه نتيجه.

فَأَثَرْنَ بِهِ نَقْعًا. د ځغاستې پر مهال ګرد او دوړې پورته کوي. أَثَرْنَ د «اثاره» له ريښې د «غبار» يا «لوګي» اوچتېدل او خپرېدل دي، او کله هم د «پارونې» په معنا کارول شوی دی، همدا راز په فضا کې د غبړ د څپو د خپرېدلو لپاره راغلی دی. «اثر» يعنې لاندې باندې کېدل. د ببلګې په توګه انقلاب ته «ثورة» ويل کيږي ځکه چې لاندې باندې کول کوي. يا غويي ته چې ځمکه يوې کوي او ځمکه لاندې باندې کوي «ثُور» ويل کيږي.

نو «اَثَرْنَ» له ثور څخه [د لاندې باندې کېدلو او خپرېدلو په معنا] ، هاغه ګرد او غبار دی چې د آسونو يا موټرو له ګرندي حرکت څخه په موټر يا آس پسې هوا ته پورته کيږي.دا ګرد او خاورې دي چې پورته کيږي او نکره راتلل يې د هغوی پر شدت دلالت کوي. لکه څنګه چې بادونه د بحر له سطحې څخه وريځې پورته کوي او خپروي:

«اللَّهُ الَّذِي يُرْسِلُ الرِّيَاحَ فَتُثِيرُ سَحَابًا...» [روم ۴۸ (۳۰:۴۸)] [«الله» هاغه ذات دی، چې بادونه ليږي بيا هغه وريځې پورته کوي؛..]

فَأَثَرْنَ بِهِ نَقْعًا. « نقع» (د نفع پر وزن) د غبار په معنا دی چې اصل يې د اوبو ننوتل يا په اوبو کې ننوتل دي، او لکه څنګه چې په «غبار» کې ننوتل هم له هغه سره ورته والی لري نو دا کليمه هم پر هغې اطلاق شوې ده، «نقيع» ولاړو اوبو ته ويل کيږي.

«نقع» يعنې د خاورو دوړې، چون د خاورو ګرد او دوړې هم غبار ته ورته دي نو ځکه نقع د ګرد او دوړو لپاره هم کارول شوی دی. هغه مهال چې آس په تاخت ځي، له ځمکې سره د سُمانو له لګېدو يې خاورې پورته کيږي. لکه څنګه چې موټر په ګړندې توګه په خاورين واټ کې ځي، دوړې او خاورې اوچتوي. تر دې ځايه دا ټول يو انځور له هاغې پېښې دی چې د پېښېدو په حال کې ده او په راتلونکي آيت کې ورته اشاره کوي.

فَوَسَطْنَ بِهِ جَمْعًا. «وسط» منځ او مابين، «جمعاً» ـ ټولی، ډله يا جمعيت. له دغې بيړې او ګړنديتوب سره په ناڅاپه توګه د دښمن په زړه کې او د هغوی د ټولنې او چم په منځ کې ننوځي او د هغوی د ټوليدو او جمعيت په منځ کې سر را اوچتوي او څرګنديږي. چې دا هم پخپله يو بل انځور او تصوير له هماغې پېښې دی. او دا حمله دومره تېزه او په بيړه ده چې د بريښنا په څېر د سترګو په رپ کې ځان د دښمن د جمعې، ټولې او ډلې منځ ته ځان رسوي. نو «فَوَسَطْنَ بِهِ جَمْعًا»، د قبيلې وسط، منځ، او قلب ته د نابره يرغل ښکارندوی دی، بالکل او په دقيقه توګه د قبيلې منځ ته، نه د هغې غاړو او چاپېرچل ته، چې په دې توګه به يې د دښمن

د قبيلې له مشرانو او واکمنانو څخه د غبرګون، ژغورنې او مخنيوي لپاره د چمتووالي وخت او موقع اخيستله. او د رُعب او وحشت لامل کېدل.

تر دې ځايه پورې يو سوګند په حملې او هجوم کې ډېر شدت، ګړندیتوب او بيړې ته د پام را اړولو لپاره، او څلور تفريعي «فاء» ګانې له هغه څخه د ولاړو شوو څلورو حالتونو [د آسونو د سُمونو جرقې او سپرغۍ، د لوټمار لپاره ګهيځ مهالی يرغل، د ګرد او دوړو پورته کېدل، او د دښمن په منځ کې حاضرېدلو] لپاره راغلي دي: فَالْمُورِيَات، فَالْمُغِيرَات، فَأَثَرْن، فَوَسَطْن.

ښه، نو اوس څه غواړي ووايي؟ موخه يې له دې انځوره څه ده؟ ډېريو له پخوانيو او نوو مفسرينو ويلي دي چې له دغو آسونو څخه مقصد چې په آيت کې ترې يادونه شوې، د مجاهدينو آسونه دي او الله تعالی پر هغوی قسم خوړلی دی، ددوی په اند چون مجاهدينو ګهيځ د وخته د فجر له څرګندېدو وروسته د سهار لمونځ له اداء کولو سره سم، خپل ځانونه پر هاغه قوم يا قبيلې د يرغل لپاره چمتو کول چې اوريدلي يې ول پر مسلمانانو د بريد کولو په سوچ کې دي. يعنې منتظر نه پاتې کېدل چې هر وخت دښمن حمله وکړي هغوی له ځانه دفاع وکړي؛ بلکې هغوی ته به همدا چې اطلاع رسېدله او خبرېدل چې دښمن د بريد کولو هوډ لري، پر هغوی به يې مخکې والی کاوه او دښمن به يې غافلګير کاوه. او ډېری به يې، لکه څنګه چې مو وويل، د شپې په وروستي پار يا نيمه شپه کې پرې يرغل کاوه او په ډېره بيړه چټکۍ او په پوره ګړنديتوب به يې خپل ځانونه د دښمن د لښکر او ډلې په منځ او زړه کې وهل او په واقعيت کې به يې د هغوی هر څه لوټل. چې ظاهراً په دې اړه ډېر روايتونو له حضرت علي (رض) او د سول اکرم له نورو اصحابو يې روايت او نقل کړي دي.

خو، د هاغو اطلاعاتو پر بنسټ چې له هغې زمانې څخه په لاس کې دي، په ټوله ټاپووزمه کې د آسونو شمېر دومره ډېر نه وو او مسلمانانو خو مثلاً د بدر په غزوه کې له يو يا دوه آسونو ډېر نه درلودل، چې په مقابل کې يې دځينو روايتونو له مخې په بدر کې د عربو مشرکينو ۲۰۰ آسونه او کابو درې زره اوښان درلودل. نو څرګنديږي چې عربان زياتره پر اوښانو سپرېدل، چې حتا د هغوی شمېر هم له مسلمانانو سره دومره ډېر نه وو.

له اوښانو يې زياتره د حج په ورځو کې استفاده کوله او د هغو په توسه به له عرفاته تر مشعر او منا تلل. په هر حال دا ځناور دومره زيات ګړندی او چټک چلن نه لري، او په تاخت ايرغه نه ځغلي، او بله دا چې، پر ځمکه د هغوی د پښو له لګېدو، که څه هم ډېر توند او په بيړه

وځغلي، شوني نه ده چې سپرغۍ ترې پورته شي. په حقیقت کې، د مفسرینو تر منځ اختلاف دی چې واقعاً په دې آیتونو کې څه څیز انځور شوی او مقصد یې څه څیز دی.

چون د ګړندۍ ځغاستې موضوع ته اشاره شوې ده او مشخص نه دی چې ګړندی ځغلیدونکی کوم حیوان دی همدا لامل دی چې ځینو هغه آس ګڼلی او ځینو هم هغه اوښ ګڼلی دی او دا چې ځینو اوښ ګڼلی ښایي له دې لامله وي چې؛ چون په عربستان کې آسونه د اوښانو په مقابل کې دومره ډېر معمول نه ول، او هم دا چې په ځینو روایتونو کې د حاجیانو د اوښانو په اړه ذکر شوی دی، نو ځکه یې دا انګېرلې چې ښایي دا به اوښ وي خو د ورپسې آیتونو په توسه چې کوم چاپېریال انځور شوی په برېښنده توګه دا څرګندوي چې دلته مطلب آس دی نو ځکه د محققینو په نزد دا قول چې نوموړی ګړندی ځغلیدونکی حیوان یې آس ګڼلی ډېر د منلو وړ دی، د سپرغیو او اور له پورته کېدو څخه دا څرګندیږي چې د آسونو نعلونه چې پر تیږو لګیږي اور او سپرغۍ ترې پورته کیږي او دا چې دا ګړندۍ ځغاسته په بیړه په تیاره کې بڼه نیسي نو ځکه بځرکي او سپرغۍ یې له ورایه برېښي.

په عربانو کې دا دود وو چې پر کومه سیمه به یې چاپه غورځوله او هغه به یې لوټ کوله د شپې په تیاره کې به یې په بیړه او ګړندۍ توګه دا عمل سرته رساوه او ګهیځ د وخته چې لا تیاره غوني به وه سیمه به یې په قبضه کې نبوله چې د سهار په رڼا کې هر څه ورته په نظر راشي خو دومره رڼا به لا نه وه چې دښمن راویښ شوی وي او مقابلې ته ځان چمتو کړي. بس خبره همدا ده په کومه چې پر داسې آسونو یې سوګند خوړلی چې د ځغاستې په وخت کې له پرشهار او سونهار سره د په سپرغیو په اوچتولو، ګهیځ وختي دوړې پورته کوونکي نابېره پر یوه سیمه ورغورځي او د کلي منځ ته ځان رسوي او هر څه لوټوي. خو تعجب پر دې دی چې ډېریو مفسرینو له دې آسونو څخه مطلب د مجاهدینو او د جهاد فی سبیل الله د غازیانو آسونه ګڼلي دي او په کومه ډله کې یې چې ددوی د ننوتو ذکر کړی دی د کفارو ډله او ټولې ګڼلې دی حال دا چې دا سوګند د انسان پر هغه حالت خوړل شوی دی چې انسان د خپل رب په اړه ډېر ناشکره دی چې په دې اړه په ورپسې آیتونو کې په څرګنده توګه توضیح ورکړل شوې ده. نو له دې پسې آیتونو څخه څرګندیږي چې وایي انسان ناشکره دی او د الهي چارو په اړه لټ او پخ دی، نو دا آیتونه په هیڅ ډول پر دې دلالت نه کوي چې دا قسمونه دې د مجاهدینو د آسونو په اړه وي بلکې اصل اشاره یې د هاغو عامه وژنو، وینو بهولو، تاړاک، یرغل، غارت او لوټمار پر لور ده چې په هاغه وخت کې د عربو تر منځ دود وو.

د جاهليت په زمانه کې به شپه يو ډېر ډاروونکی خيز ګڼل کېده، په کومه کې به چې د هرې قبيلې او سيمې خلکو دا خطر او ګواښ محسوسولو چې څه معلومه که کوم دښمن پر هغوی د نابېره يرغل لپاره را رهي وي، او د ورځې د رڼا په څرګندېدو به يې د اطمنان او ډاډېينې ساه اخېستله چې شپه په خير تېره شوه، هلته به قبيلو په خپلو منځونو کې يوازې د واکمنۍ د لاسته راوړلو پر سر جګړې نه کولې بلکې مختلفو قبيلو به پر يو بل ددې لپاره هم چاپې غورځولې چې د هغوی مال دولت او شتمني لوټ کړي او د هغوي اهلي حيوانات او ژوي له ځان سره بوځي او ښځينه او ماشومان يې مريان کړي. دغه ظلم او لوټمار چې ډېری يې پر آسونو سپرو کسانو سرته رسوه، الله تعالی دغه چاره د دليل په توګه وړاندې کوي چې انسان ډېر ناشکره او بخيل دی. يعنې کوم ځواک چې هغه په جنګ جدل، جګړو او لوټمار کې کاروي، هغه ځواک ورته الله تعالی ددې لپاره خو نه دی ورکړی چې د هغه څخه دا ډول کار واخلي. نو په حقيت کې دا ډېره ناشکري ده چې د الله ورکړل شوي وسايل او د هغه ببنل شوي ځواکونه په ځمکه کې د فساد [فساد فی الارض] د خپرولو لپاره وکاروي چې دا چارې الله ته تر ټولو ډېرې ناخوښه چارې دی.

په پای کې ددې موضوع د لا ښه توضيح لپاره چې له آسونو څخه موخه د مجاهدينو آسونه نه بلکې د عربو لوټمارو داړه مارو آسونه دي، په لاندې توګه يې تر غور لاندې نيسو:
لکه څنګه چې مخکې مو وويل ددې سورت لومړنی سوګند د ګړنديو آسونو د يرغل پرمهال له پرشهار او سوبهار سره د لنډې لنډې ساه اخېستلو پر حالت دی، چې له ځلورګونو صحنو او انځورونو سره [د تفريع له فاء سره] له مختلفو اړخونو څخه څرګند شوي دي؛ چې له تيرو سره د آسونو د سُمونو په لګېدو کې اوچتېدونکو سپرغيو ته، ګهيځ مهالي تاخت کولو، د ځغاست او يرغل له شدت او ګړنديتوبه د ګرد او دوړو اوچتېدلو او د دښمن په زړه کې او د هغوی د ټولېدو په مرکز کې ورننوتلو او ځای پر ځای کېدلو ته اشاره شوې ده.

دا صحنې چې ظاهراً د تکړه توب او په بيړه او زړورتيا د عمل او کړنو حالت ته اشاره کوي، د لوستونکو د خيال او فکر لېږدوونکی [او مرکب] هم په زړه پورې صحنو ته او د شجاعت، غيرت او عزت او د الله په لاره کې د مبارزې او جهاد ډګر ته، چې د انسان په فطرت کې زمينه لري [خو غالباً پالنه نه مومي يا سرکوب کيږي] مخه کوي او د هغه پر لور وردرومي. او ګواکې په همدې لامل هم ښايي پخوانيو مفسرينو، او له هغوی څخه په تبع او پلټونې ورپسې مفسرينو پرته له دې چې کومه قرينه په سورت کې شتون ولري، ددې سورت

سوګندونه يې د مجاهدينو آسونو [يا د حاجيانو اوښانو] ته منطبق کړي دي او له هغه يې د مجاهدو مؤمنينو په شان کې ستاينه او تمجيد استنباط کړى دى او دا سورت يې مدني ګڼلى، ځکه چې د مسلمانانو دفاعي غزوې د رسول الله تر نظر لاندې په مدينه کې پيل شوې دي.

په داسې حال کې چې د ډېرو دليلونو له لامله چې په لاندې ډول ورته اشاره کيږي دا ډول برداشت او لاسته راوړنه ناسمه بريښي او نه شي کولی قانع کوونکي اوسي:

١ـ ددې سورت د آيتونو قافيه اوظاهري بڼه، پيل کېدل يې په سوګند او د هغه د آيتونو منځنى اوږدوالى او آهنګ يې په مکه کې له نازل شوو آيتونو سره چې د بعثت په لومړنيو کلونو کې نازل شوي دي، پوره ورته والى لري. په داسې حال کې چې جهاد او قتال په مدينه کې د هجرت په پَير پورې اړه لري او ددې سورت مدني ګڼل د هغه د سبک او سياق پر خلاف دى.

٢ـ په داسې حال کې چې د قرآن په دوو وروستنيو برخو يا [سيپارو] کې [د نصر له سورت پرته چې ځانګړى حالت لري] هيڅ يو سورت په مدينه کې نازل شوى نه دى، څنګه کولی شو دا سورت چې محتوا او بڼه يې په ښکاره توګه له مکي سورتونو سره همغږي څرګندوي، په ځانګړې توګه مدني وبولو؟ [د «سير تحول قرآن» د شميريزو ګڼنو او هم د ځېنو مفسرينو مطابق، د نصر د سورت په اړه هم، سره ددې چې د مفسرينو عمومي نظريه د هغه په مدني والي ټېکاو ده خو دا هم له شونتيا لېرې نه بريښي چې يو سورت دى سره ددې چې مکي وي مؤمنيو ته له الهي نصرته، فتحې او برياليتوبه خبر ورکړي. (اذا جاء نصرالله والفتح ...)]

٣ ـ ګواکې هاغو کسانو چې ددې سورت سوګندونو ته يې د مجاهدينو له آسونو سره نسبت ورکړى دى، په دې تمه دي د خداى تعالى سوګندونه به هرومرو ګټورو او مثبتو اړخونو ته او له خير او برکته ډکو آيتونو او اغېزو ته پام لرونکي وي، په داسې حال کې چې الزاماً داسې نه ده او د قرآن لوړې او سوګندونه کله کله پرته له دې چې ارزښتمنۍ او مثبت اړخ ته متوجه وي، واقعيتونو او ښکارندو ته د انسان د عبرت او تذکر لپاره اړوند کيږي لکه:

والعصر، ان الانسان لفى خسر – والتين ... لقد خلقنا الانسان فى احسن تقويم – و والدو ما ولد، لقد خلقنا الانسان فى کبد – و ما خلق الذکر والانثى، ان سعيکم لشتّى – و ....

۴ ـ که ددې سورت سوګند د مجاهدينو آسونو پورې تړاو درلودى، قاعدتاً د قسم نتيجه او ځواب يې بايد له هغه سره متناسب تشويق، تجليل او ستاينه واى [مثلاً چې ويل شوى واى: ان الانسان لربه لشکور]!!!، په داسې حال کې چې د قسم ځواب دګنه، رټنه او ګواښن وزمه

ويښونه ده چې انسان رټې او ګواښي څکه چې د خپل پالونکي ښبنتن په اړه لټ او تنبل دی [ان الانسان لربه لکنود] او سره ددې چې پخپله هم په بشپړه توګه آګاه او خبر دی او له خپل احواله بېخبر نه دی [و انه علی ذلک لشهيد] او له لټۍ او تنبلۍ سره سره د خپلو شخصي ګټو لپاره ډېر سخت هڅه کوونکی او خواريکښ دی [و انه لحب الخير لشديد]. پاملرنه وکړئ دا ډول صفتونه څومره له هاغه څه سره چې د مجاهدو مخکښو سپرو په شان کې د تصور وړ دی توپير لري.

۵ ـ د اسلامي جهاد طريقه، لکه څنګه چې قرآن د هغه ضابطې او طريقې څرګندوي او رسول الله (ص) يې په غزواتو او سريو کې سنت اېښوونه کړې ده او د رسول الله اصحابو او اسلامي امامانو او لارښوونکو پرې عمل کړی دی، له هاغو موردونو پرته چې مسلمانانو د دښمنانو د شبخون په مقابل کې، د خپل پوځ په تجهيز او وسله وال کولو پيل او عمل کاوه، هېڅکله د بريد او هجوم او په ځانګړې توګه د سباوون غافلوونکي ناڅاپي يرغل پيلوونکي [لکه څنګه چې ددې سورت په پيل کې انځور شوی دی] نه ول.

لومړنيو مجاهدينو پر قرآني روزنې له تکيه کولو سره، په پيل کې به يې دښمن ته د اسلام يا د سوله ايز ګډ ژوند پر لور بلنه ورکوله او د هغوی د تعرض او تجاوز په صورت کې به يې دفاع پيل کوله. څنګه کېدی شي خدای تعالی په يو سورت کې د جهاد له موخې هدف، انګيزې او علت پرته خبره کړې وي؟

۶ ـ د سورت مطالب، موضوع او محور، انسان ته د هغه د کړنو د پايلو په اړه وېښتيا وزمه ګواښنه او رټنه ده ( لکه د تېر شوي او راتلونکي سورت په څېر)، او له ويښوونکې لحن او ګواښ سره هغه تر رټنې او دګنې لاندې نيسي. [افلا يعلم اذا ...] په داسې حال کې چې د مجاهدينو له آسونو څخه ستاينه، د سورت له نهائي نتيجې اخيستنې سره بې تناسبه برېښي.

---

۱ ـ عاديات د عاديه جمع، تيزتګو او ګړنديو آسونو ته ويل کېږي چې په پرله پسې توګه د تاريخ په اوږدو کې، د الوتکو او ټانک او د موټرو او ماشيني آلاتو له اختراع مخکې، په جنګونو کې ګړندی ترين مرکب يا لېږدوونکی دی، او د ځينو د قول پر اساس د بشري ټولنو د سرليک ټاکونکي دي. عاديات د عدو، تعدّی، عداوت او ... سره هم ريښه دی او د هغه په ټولو مشتقاتو کې په يو ډول له حده تېرېدل او بيړه، تيزوالی او شدّت نغښتی دی. عربي آسونه د آسونو مشهورترين نژاد دی او ددې آيتونو د نزول معاصرين د «عاديات» په اهميت چې د سوګند له واو سره راغلی په بهتره توګه واقف ول.

۲ ـ «ضَبْح» حمحمه او په پرله پسې توګه ژرژر ساه اخېستلو ته ويل کيږي چې په بيړه او ګړندۍ توګه له تاخت او ځغاست وروسته ښکاره کيږي. دا کليمه يوازې يو ځل په قرآن کې کارول شوې ده.

۳ـ «مُورِيات» د موريه جمع ده، د «ورى» له ريښې هاغه جرقه يا سپرغۍ ده چې له تيږي سره د مرکب د سُمّ پر لګېدو رامنځته کيږي. دا کليمه يو ځل بل هم په قرآن کې راغلې ده: آيا هيڅکله مو هاغه اور ته چې تاسو يې بلوئ [له پاملرنې او ځيرتيا سره] کتنه کړې ده؟ «أَفَرَأَيْتُمُ النَّارَ الَّتِي تُورُونَ» [واقعه ۷۱(۵۶:۷۱)] آيا هغه اور ته، چې بلوئ، تاسې ورکتلي دي [=پاملرنه مو ورته کړې]؟!

۴ ـ «مُغِيرَات» د مغيره جمع [يرغل کوونکى]، د غور له ريښې [په ځمکه کې د اوبو ننوتل او په مسئلو کې تفکر کول]، په بيړه او ګړندۍ توګه يرغل کوونکو ته ويل کيږي چې د يوې قبيلې د لوټ کولو لپاره به يې پر هغوى شبخون کاوه. د «صُبحاً» د حال وصف، له تياره شخه د رڼا و لور ته د مهال بيانوونکى دى ددې لپاره چې مقابل طرف مخکې له دې چې خپل ځان نېغ کړي او د دفاع لپاره چمتو شي د سپرو له يرغل سره مخامخ کيږي. دا د عربو د قبيلو وصف دى چې له يوه سره ټول د مخې د يو او بل په شبخون او وژنه، چور او لوټمار کې اخته ول. عاديات چې ډېريو مفسرينو د سوګند د «واو» له لامله، د مجاهدينو د آسونو يا د حاجيانو د اوښانو [چې ګړندي د مشعر او منى پر لور ځي] تمجيد، تکريم او ستاينه انګېرلې او ټول سورت يې د دغې انګېرنې تر سيورې لاندې تفسير کړى دى، حال دا چې زموږ له نظره د لاندنيو لاملونو پر بنسټ دا ډول برداشت مناسب نه دى.

الف: دا سورت د قرآن په انتها او د مکي لنډو سورتو په منځ کې ځاى لري او د بعثت د دريم کال په پيليزه کې په مکه کې نازل شوى دى [د سير تحول قرآن ۱۴ جدول]، د سورت د پاى ګواښنده سياق هم له مکي سورتونو سره د هغه پر همهاول والي ګواهي ورکوي. د بدر او د هغه په څېر نور جنګونه چې پر دې آيتونو يې تطبيق کړي دي، له لسو کالو زيات وخت وروسته ترې پېښ شوي دي او ځينې مفسرين له داسې انګېرنو سره اړ شوي دي دا سورت، د هغې له څرګند جوړښت او مضمونونو سره سره مدني معرفي کوي!

ب: د بدر په جنګ کې مسلمانانو له يو يا دوو آسونو شخه زيات نه درلودل او کومې صحنې چې ددې سورت په لومړنيو ۵ آيتونو کې انځور شوي دي له غزواتو سره ډېر لږ د انطباق وړ پيژندل شوي دي.
ج: معمولاً کوم سوګندونه چې په قرآن کې راغلي دي د سوګند له نتيجه ګيرئ او ځواب سره تناسب لري، د انسان پر ناشکرئ، پخوالي او لتې ټينګار او تأکيد کوي، له داسې تجليل سره چې د مجاهدينو له ګړنديو آسونو مناسبت نه لري، د حاجيانو اوښانو هم د ناظرانو په سترګو کې دا ډول ننداره نه ده درلودلې.

د: د «مُغِيرَات» فعل په څرګنده توګه له غارت شخه، چې د عربانو عادت وو، حکايت کوي، د فعل ارجاع ورکول د هغه ريښې ته، چې د ګړندي يرغل بيانګر دى، منطقي نه بريښي.

۵ ـ «اَثْرَنَ» له ثور [يعنې لاندې باندې کېدلو او خپرېدلو] شخه، هاغه ګرد او غبار دى چې د آسونو يا موټرو له ګړندي حرکت شخه په هغه ورپسې هوا ته پورته کيږي. لکه څنګه چې بادونه د بحر له سطحې

څخه وربځې پورته کوي او خپروي:«اللَّهُ الَّذِي يُرْسِلُ الرِّيَاحَ فَتُثِيرُ سَحَابًا...» [روم۴۸(۳۰:۴۸)] [«الله» هاغه ذات دی، چې بادونه ليږي نو هغه وربځې پورته کوي؛....] هماغه ګرد او خاورې دي چې پورته کېږي او نکره راتلل يې د هغوی پر شدت دلالت کوي.

۶ ـ « فَوَسَطْنَ بِهِ جَمْعًا»، د قبيلې وسط، منځ، او قلب ته د نابېره يرغل ښکارندوی دی، باالکل د قبيلې منځ ته، نه د هغې غاړو او چاپېرچل ته، چې په دې توګه به يې د قبيلې له مشرانو او واکمنانو څخه د غبرګون، ژغورنې او مخنيوي لپاره د چمتووالي وخت او موقع اخېستله. او د رُعب او وحشت لامل کېده.

ترې ځايه پورې يو سوګند په حملې او هجوم کې دا ډول شدت او بيړې ته د پام د را اړولو لپاره، او څلور تفريعي «فاء» ګاني له هغه څخه د ولاړو شوو څلورو حالتونو [د آسونو د سُمونو جرقه او سپرغۍ، د لوټمار لپاره ګهيځ مهالی يرغل، د ګرد او دوړو پورته کولو، د دښمن په منځ کې حاضرېدلو] لپاره راغلي دي: فَالْمُورِيَات، فَالْمُغِيرَات، فَأَثَرْن، فَوَسَطْن.

---

إِنَّ الْإِنْسَانَ لِرَبِّهِ لَكَنُودٌ﴿۶﴾

بېشکه انسان [ چې په دا ډول د تاړاک، لوټمار او غنيمت لپاره په بيړه کې دی او هڅاند دی او له بل لوري ] د خپل پالونکي ښنتن په اړه [=په معنوي چارو او د بشر د چوپړ په چارو کې] نا شکره [پخ او لټ] دی.(۷)

وَ إِنَّهُ عَلَى ذَلِكَ لَشَهِيدٌ﴿۷﴾

او په تحقيق سره پخپله هم په رښتيني توګه پر دې [لټې او ناشکرۍ] ښه شاهد دی.

وَ إِنَّهُ لِحُبِّ الْخَيْرِ لَشَدِيدٌ﴿۸﴾

او بې له شکه د [مادي او شخصي] ګټو سخت مينه وال دي.(۸)

| إِنَّ الْإِنْسَانَ | لِرَبِّهِ | لَكَنُودٌ | وَ إِنَّهُ | عَلَى ذَلِكَ | لَشَهِيدٌ |
|---|---|---|---|---|---|
| په رښتيا انسان | خپل پالونکي ښنتن ته | ډېر ناشکره | او په تحقيق هغه | پر دې | هرو هرو ګواه دی |

| وَ إِنَّهُ | لِحُبِّ | الْخَيْرِ | لَشَدِيدٌ |
|---|---|---|---|
| او بې له شکه | مينه وال | د مال او شتمنيو | ډېر سخت |

---

د دې سورت دويمه برخه چې درې آيتونه له شپږم څخه تر اتم آيت پورې پکې شامل دي د سوګند نتيجه ده، چې څلور کليمه اي جملې دي چې د «دال» په توري ختمېږي. د مخکينې آيتونو د قسم ځواب دی چې د انسان حالت پکې د الهي چارو په اړه څرګند شوی دی.

هاغو ګوت نيونو او اعتراضونو ته په پاملرنه چې ددې سورت د لومړنيو پنځو آيتونو په اړه د معمولو ورکړل شوو نظرياتو په نسبت شوي دي، داسې برېښي چې د داسې قرينې د موندلو لپاره چې د سورت د سوګندونو مصداق څرګند کړي بايد د هغه په نورو آيتونو کې تدبّر وکړو. په دې کې تر ټولو ړومبی د سوګندونو ځواب دی. چې ددې چار لپاره تر ټولو غوره لارښود دی. دا ځواب سره له دې چې ټول يو مطلب دی، خو له دريو برخو تشکيل شوی دی چې د هغوی پر مضمون غور او پاملرنه کولی شي د قفل د پرانېستلو لپاره کونجي څرګنده کړي. دا درې برخې په لاندې توګه تر پاملرنې لاندې نيسو:

إِنَّ الْإِنْسَانَ لِرَبِّهِ لَكَنُودٌ «په رښتيني توګه انسان د خپل رب په نسبت، په الهي چارو کې، ناشکره [ لټ او پخ] دی». وَإِنَّهُ عَلَى ذَٰلِكَ لَشَهِيدٌ «په داسې حال کې چې دی هم پرته له شکه پر داسې حالت بشپړ خبر او شاهد دی». وَإِنَّهُ لِحُبِّ الْخَيْرِ لَشَدِيدٌ «په داسې حال کې چې له «خير» [آس يا هر يو ښه او ګټور شيز] سره په مينه کولو کې ډېر هڅاند دي».

إِنَّ الْإِنسَانَ لِرَبِّهِ لَكَنُودٌ. «اِنَّ» يعنې قطعاً، مسلماً، په رښتيني توګه؛ يعنې هاغه څه چې بيانيږي له حقيقت پرته نور څه نه دي. او دلته حقيقت څه دی؟ دا چې انسان د خپل پالونکي ښښتن په نسبت ناشکره، پخ او لټ دی. د «کَنود» کليمه له ډېرو سختو کليمو څخه ده چې ډېری لغت پوهانو ونشو کولی دقيقه معنا ورته ومومي. نو پر دې بنا د مفسرينو او ژبپوهانو قولونه په دې اړه مختلف شوي دي. مثلاً ځينو ويلي دي «کنود» يعنې ناشکره او ځينو نورو هغه «کم خيره» معنا کړی دی. «کَنُود» هاغې ځمکې ته ويل کيږي چې هيڅ شيز نه زرغونوي چې په دې توګه د ورته والي پر بنسټ ناشکره او بخيل انسان ته هم تړاو مومي.

مرحوم طالقاني احتمال ورکړی دی چې دا کېدای شي همدا د فارسي «کُند» کليمه وي. ځکه چې په عربي ژبه کې هم لکه د نورو ژبو په څېر، داخل شوي لغتونه ډېر زيات دي او ډېر لغتونه له نورو ژبو پکې وارد شوي دي. په هر حال کوم احتمال چې مرحوم طالقاني ورکړی دی زموږ له ليده هم سم برېښي. او دا معنا په دې آيت کې په بشپړه توګه متناسبه او اړوند ښکاري. واېي انسان چې په دې کچه د دنيا په کار کې بيړه ناک او ګړندی دی، خو کله چې نوبت د هغه د پالونکي ښښتن په اړه او تړاو چارو ته رسيږي لټ چاری او پخ چلنده دی.

که د تاريخ له پاڼو را په زړه کړو چې له اسلامه مخکې د عربو د طايفو او قبيلو کار او دنده د يو بل له قتل او لوټمار پرته نور څه نه ول او د هغوی ژوند يوازې د يو بل پر يرغل او د مال پر

لوټ کولو تېرېده. قانون خو يې نه درلود، قانون يې د ځنګل قانون وو. دومره تېرى او ظلم پرې واکمن وو چې په لږه پلمه به يې يو تر بله وژل.

وايي دې صحنو ته پاملرنه وکړه، دا لوټمار کوونکي آسونه ددې شاهدي ورکوي چې انسان د خپل پالونکي رب ډېر ناشکره دى. وګوره دا خلک د خپلو شخصي ګټو او د يو بل په لوټ کولو کې څومره بېړه او ګړنديتوب کوي، خو ددې په مقابل کې د الهي چارو په اړه څومره پڅ او لټ دي. که دوى واوري چې په پلانکي ځاى کې ګټه ده او يا ګټوره پېرودنه — پلورنه ده، څومره په بېړه هاغې لورته ځغلي. دا خو به مو اوريدلي وي چې ډېر خلک شپه او ورځ په دې فکر کې دي چې په دې فصل کې څه واخلي چې ذخيره يې کړي او د ګرانۍ په وخت کې يې بازار ته راوباسي او که دې ته ضرورت وي چې د پيرېدلو لپاره يې انتظار وکړي ټوله شپه به ورته د سړک پر غاړه د خريدارۍ ځاى ته نژدې، په ولاړه تيروي، چې ګهيځ د وخته تر ټولو لومړنى خريدار اوسي، خو که د توکو تر پېرودلو وروسته به يې اوريدل چې قحطي ده او خلک له لوږې مري يا دا چې څومره فقر او بيچاره ګي په ټولنه کې شتون لري، نو بيا به خپلې اوږې پورته غورځوي او وايي به چې بس د الله ويش دى نو، چا ته عزت ورکوي او چاته ذلت، او يا دا چې موږ خو پرې مسئول نه يو دا خو د بډايانو او مالدارو خلکو کار دى چې مرسته ورسره وکړي، زموږ خو هسې ګوزاره کيږي، نور کسان شته چې مرستې کوي او دې کار ته يې ملا تړلې ده. په دې آيت کې وايي چې؛ په هاغې وخت کې چې د خلکو سره به د ښه کولو او مرستې کولو ضرورت وو دا خلک به پڅېدل او لټي يې کوله. انسان د خپل پالونکي څښتن په نسبت همدا ډول «کَنود» دى. «کَنود» يې هم له لام سره ذکر کړى چې د ټينګار او تأکيد لپاره دى او «انَّ» چې په پيل کې يې راغلى دى بيا هم د ډېر تأکيد او ټينګار لپاره دى.

په هر حال کې، مطلب دادى چې که دا آسونه چې پر هغوى قسم ياد شوى د مجاهدينو آسونه واى، ورپسې به يې نه ويل چې انسان ناشکره دى، لټ او پڅ دى، بلکې ددې پر عکس به يې ويلى چې وګوره انسان څومره د خداى تعالى په فرمان وړلو کې تيز، توند او ګړندى دى.

دا خبره سربېره پر دې آيت د قيامت سورت د ۱۵ او ۱۶ آيتونو په توسه هم تائېديږي. «بَلِ الْإِنْسَانُ عَلَى نَفْسِهِ بَصِيرَةٌ، وَلَوْ أَلْقَى مَعَاذِيرَهُ» [القيامة ۱۵(۷۵:۱۵) او ۱۶]. بلکې انسان [پخپله] پر خپل نفس بصيرت لري [= خپل ځان له نورو ډېر ښه پيژني]. که څه هم عذر او پلمه [= توجيه] راوړي.

په دغه راز موردونو کې د «انسان» له تعبير څخه مطلب د شرور، هواپالي، سرکښه او سرغړاوي انسان دی، او ځينو هم هغه کافر او مشرک انسان بللی دی، او که نه دا خو جوته ده چې هر يو انسان دا ډول نه دی، ډېر داسې کسان شته چې شکر، ښښنه، ورکړه، له انسان سره مرسته او د الله پورې اړوند چارې يې په روح کې ګډې دي او له کفران، حسد او بخل څخه بيزار دي، او د خپل پالونکي ښښتن د اسماؤ او صفاتو په معرفت او پر الهي اخلاقو له ځان سمبالونې سره الوت کوي.

خو په دې آيت کې وايي چې انسان د خپل پالونکي ښښتن د نعمتونو ناشکري او انکار کوي، او د هغه پراخ او ستر نعمتونه ناليدلي نيسي، د انسان ناشکري او حق ناپېژندنه په ډول ډول او خپرو ورو بڼو او نمونو کې ښکاره کېږي او د ويناو او کړنو په بڼه څرګندېږي، او د هاغه شاهد پر ځای، ځای نيسي، چې دا حقيقتونه بيان کړي او پرې شاهدي ورکړي.
ګواکې انسان پخپله د خپل ځان پر ضد پر دې حقيقت شاهدي ورکوي. يا ګواکې د قيامت په ورځ کې پخپله د خپلې ناشکرۍ، حق ناپېژندنې، انکار او کفر په اړه شاهدي ورکوي.

وَإِنَّهُ عَلَى ذَلِكَ لَشَهِيدٌ. «انَّ» او د لشهيد «لام» هم بيا ځلې د تأکيد او ټينګار لپاره راوړل شوی دی. په تحقيق سره انسان پر دې ټولو شاهد دی. په ټينګار سره وايي چې، له پورتنيو شواهدو پرته انسان پخپله هم پر خپلې دې کمزورۍ او بيمارۍ شاهد دی او هغه ته خپل کړه وړه او چال چلن ښه معلوم دی. وايي پخپله انسان هم په دې ښه پوهيږي! پخپله هم د خپل کار شاهد دی او خپل ځان ډېر ښه پيژني.

انسان سل ځلې په خپل ژوند کې ليدلي چې که د هغه د شخصي ګټو پښه په منځ کې وي، په هيڅ وجه به سستي او لټي ونکړي او تر هاغې چې خپل حق او يا حقونه يې په بشپړه توګه نه وي اخيستي لاس ترې نه اخلي. خو له بل لورې د خلکو د خدمت او د خدای تعالی په لار کې د قربانۍ او سرتېرۍ لپاره ناتوانه، لټ او سست دی؛ بې رغبته او بې زړه مخکې ځي. په هاغه بل لور د پښو پر ځای پر سر ځي، خو دې لور ته ورو ورو او تم تم راځي. د حق خبرې په منلو کې هم په همدې ډول دی.

د حضرت موسی (ع) په داستان کې دي چې يو سړی د ښار له هاغې بلې څنډې په منډه منډه راځي چې موسی ته خبر ورکړي چې ځينو خلکو د هغه د وژلو هوډ کړی دی او هر څومره ژر چې کېدی شي له ښاره دې خارج شي، او له دې کار سره يې خپل ځان په خطر کې واچوه.

وايي: «وَجَاءَ رَجُلٌ مِنْ أَقْصَى الْمَدِينَةِ يَسْعَى قَالَ يَا مُوسَى إِنَّ الْمَلَأَ يَأْتَمِرُونَ بِكَ لِيَقْتُلُوكَ فَاخْرُجْ إِنِّي لَكَ مِنَ النَّاصِحِينَ»[قصص۲۰ (۲۸:۲۰)]. «[په دې مهال کې] يو سړی د ښار له لېرې نقطې څخه په منډه راغی او وېې ويل: ای موسی د قوم مشرانو مشوره کړې ده چې تا ووژني، نو [پرته له ځنډه له ښاره] ووځه چې زه ستا لپاره خير غواړم».

وګورئ د انسانانو تر منځ څومره توپير دی، هغوی چې د موسی شاوخوا ته دي د هغه خبره نه شي درک کولی او له هغه سره دښمنان کيږي، خو ځينې کسان له لېرې واټنه د هغه مرستې ته راځغلي. همدا راز الله تعالی د پيغمبر د زماني مشرکانو ته وايي چې تاسو د دې قرآن خبرو ته غوږ نه ږدئ او پرې نه پوهيږئ، خو الله تعالی ناپېژاندي او پردي کسان چې تاسو نه پېژندل ستاسو منځ ته راولېږل او هغوی راغلل او قرآن يې واوريد او د خپل قوم لور ته ستانه شول او هغوی ته يې وويل؛ له داسې يو هيښوونکي کتاب سره مخامخ شوي يو چې له عام حالته پورته دی، او د هغه په توسه هدايت شوي يو. چې قرآن له دې ناپېژاندو خلکو په «جن» تعبير کوي: «قُلْ أُوحِيَ إِلَيَّ أَنَّهُ اسْتَمَعَ نَفَرٌ مِنَ الْجِنِّ فَقَالُوا إِنَّا سَمِعْنَا قُرْآنًا عَجَبًا». [جن۱ (۷۲:۱)].
[ای پيغامبره] ووايه: ماته وحی شوې ده چې [په رښتيا، نه خيالي] څو کسانو [د عربو له ژبې او فرهنګ سره] له پردو څخه [د قرآن خبرو ته] غوږ کېښود او هاغه مهال يې [خپل قوم ته] وويل: موږ هيښونکي لوستونی [وينا او مطلب] اورېدلی دی.
– چې دلته دا «جن» له هاغه څه پرته دی چې په عامه توګه يې خلک تصور کوي –

آيا موږ وسمهال دا راز حقيقت په خپلو منځونو کې نه وينو؟ موږ مسلمانان له قرآنه غافل يو خو ځينې کسان د دنيا په هاغه سر کې ددغه کتاب له مطالعې سره سم اووښتون او بدلون کوي، تغير مومي او منقلب کيږي او په دغه کتاب کې له غورکولو او ژور ليد سره داسې معناوي کشف کوي چې هم هغوی پخپله او هم نور ورته حيران دي. دا موږ ته اوس بيخي څرګنده ده چې په کلنۍ توګه په امريکا او د لويديزې نړۍ په نورو سيمو کې په زرګونو کسان مسلمانيږي د دوی په مرکو او خبرو کې چې کړي يې دي واقعاً سړی تعجب کوي او حيرانيږي چې دوی په دې کتاب کې څه ليدلي دي چې هغوی ته يې دومره ټکان ورکړی دی. دوی له دې دين څخه په کومو حقيقتونو پوه شوي چې يو ناڅاپه له ځمکې څخه تر آسمانه توپير پکې راغلی دی او دا په داسې حال کې چې ځينې کسان په ختيزه نړۍ او زموږ په هيوادونو کې له دين څخه تښتي! دا لويديزوال چې زموږ په نسبت له دې کتابه ناعالم تر دي وګورئ پاملرنه ورته وکړئ په هغې کې په کومو حقيقتونو پوه شوي دي. دا د الله وعده ده چې پر ځای کيږي.

وَإِنَّهُ عَلَى ذَلِكَ لَشَهِيدٌ. وَإِنَّهُ لِحُبِّ الْخَيْرِ لَشَدِيدٌ. هر درې واړه آيتونه له «انَّ» او د تأکيد له «لام» سره راغلي دي: لَكَنُودٌ، لَشَهِيدٌ، لَشَدِيدٌ. انسان په شدت، سختۍ او ټينګار سره په خير پسې دی. هر ښه، ګټور او فايده مند څيز «خير» نومول کېدی شي، په دې آيت کې يې د انسان د ناشکرۍ د مرض لامل څرګند کړی دی، او وايي چې د دنيا د مال په مينه کې ډېر شديد او سخت دی، د مال مينه هغه د بخل، سختۍ، امساک او ټيټوالي لور ته هڅوي، او د الله په لار کې يې له خرڅ کولو څخه مخنيوی کوي. د يادولو وړ ده چې په قرآن کې «خير» د آس په معنا هم راغلی دی. نو که وغواړو په معنا او ځانګړي مصداق يې په دې سورت کې پوه شو بايد د آيت په آيت تفسير له طريقې څخه مرسته واخلو.

په يوازېني بل ځای کې چې د «حب الخير» جمله په قرآن کې کارول شوې ده، هلته د «خير» مصداق آس دی. د حضرت سليمان په کيسه کې قرآن وايي چې حضرت سليمان پر هاغو آسونو له بوختېدو سره چې د جهاد لپاره يې چمتو کړي ول، د پالونکي څښتن «رب» له ذکره «نمونځه» پاتې شو او لمر پرېوت: « إِذْ عُرِضَ عَلَيْهِ بِالْعَشِيِّ الصَّافِنَاتُ الْجِيَادُ. فَقَالَ إِنِّي أَحْبَبْتُ حُبَّ الْخَيْرِ عَنْ ذِكْرِ رَبِّي حَتَّى تَوَارَتْ بِالْحِجَابِ.» [ص۳۱(۳۸:۳۱) او ۳۲].

[راياد کړه] هاغه مهال چې لمر پرېوتو ته نژدې ګړندي آسونه يې [جګړې ته د چمتو والي لپاره] هغه ته وړاندې کړل. [سليمان] وويل: آسونو ته [دزړه له تله] ډېرې پاملرنې زه د پالونکي څښتن له ياده غافل کړم تر هاغې چې [لمر] د پردې شاته پټ شو [= پرېوت].

وايي سليمان وويل زه د پالونکي څښتن له ياد څخه زيات د آسونو په مينه کې بوخت او مشغول شوم تر هاغې چې لمر په پرده کې پټ شو او پرېوت.

د پيغامبر معاصرو او هم مهالو خلکو له آس او لوټمارۍ سره پر مينتوب او د لوټ او يرغل په کولو سره، د «رب» لور ته له پاملرنې څخه لټ او تنبل شول [ ان الانسان لربه لکنود ... و انه لحب الخير لشديد ]. چې په هر دواړو موردونو کې «حب الخير» د «رب» له ذکره مخنيوی کړی دی. چون په عربي ژبه کې د خير لفظ يوازې نېکۍ او ښه والي ته ځانګړی نه دی بلکې د مال او دولت لپاره هم استعمال شوی دی — لکه څنګه چې د بقره سورت په ۱۸۰ ام آيت کې خير د مال او دولت لپاره کارول شوی دی. «كُتِبَ عَلَيْكُمْ إِذَا حَضَرَ أَحَدَكُمُ الْمَوْتُ إِنْ تَرَكَ خَيْرًا الْوَصِيَّةُ لِلْوَالِدَيْنِ وَالْأَقْرَبِينَ بِالْمَعْرُوفِ حَقًّا عَلَى الْمُتَّقِينَ» [ بقره۱۸۰(۲:۱۸۰) ].

هرمهال چې ستاسو له يوه [د] مرګ [نښې] رارسيږي، که [د پاملرنې وړ] کوم مال [له ځانه] پرېږدي، اړين دي [= فرض او ښائيږي] چې مور او پلار او خپلوانو ته، په هاغه ډول چې د

منلو وړ دي [= د زماني د نېک او غوره عُرف سره سم] وصيّت وکړي. دا د پرهېزکارانو پر غاړه يو حق [مسئوليت] دی.

له خير څخه مقصد، هر مال او غوره شوی څيز او مطلوب توکی دی چې انتخاب او خوښ شوی وي، او انسان ته په زړه پورې وي. خير په قرآن کې د شرّ په مقابل کې راغلی دی: «إِنَّ الْإِنْسَانَ خُلِقَ هَلُوعًا.إِذَا مَسَّهُ الشَّرُّ جَزُوعًا.وَإِذَا مَسَّهُ الْخَيْرُ مَنُوعًا»[معارج ۱۹ (۷۰:۱۹)تر۲۱].

په رښتيا، انسان حريص [او له نه وړتيا سره] پنځول شوی دی. همدا چې لږ شر [او کړاو] ورته ورسېږي؛ نو فرياد [او مانېې] کوي. او چې لږ شانته خير [او ښېګڼه] ورته ورسېږي. [نورو ته د خير رسولو] خنډ ګرځي [او بخل کوی]. [= نفس يې د خير مخنيوی کوي]

اوس که څه «خير» د آس په معنا ونيسو او يا که د هغه په عمومي معنا خير ترې مطلب واخلو، په هر صورت کې، د خير مطلب مادي دی، نه معنوي.

پر دې بنا پنځه لومړني آيتونه چې د يوه حقيقت د بيان په مقام کې دي، په لومړنيو آيتونو کې سوګند او اړوند چاپېريال يې څرګندوي او ورپسې کومه نتيجه چې اخلي منفي ده چې د سورت پيغام همدا دی. لکه څنګه چې د سليمان (ع) په داستان کې لولو چې، وايي: «فَقَالَ إِنِّي أَحْبَبْتُ حُبَّ الْخَيْرِ عَن ذِكْرِ رَبِّي» چون په هاغه زمانه کې آس تر دې بريده محبوب وو چې هغه ته به يې «خير» ويلې.

وسمهال هم مثلاً زموږ د ځوانانو لپاره د ګړنديتوب د مسابقې موټر «خير» دی ځکه چې ډېر خوند ترې اخلي او دا يې آرمان او هيله وي چې له هغوی څخه د يوه واکه [جلو يا سټيرينګ - Steering] په لاس کې ولري او په تېول سرعت، بيړه او ګړنديتوب يې وځغلوي. په تېرو پېريو کې آسونه د ځوانانو لپاره داسې ول لکه څنګه چې اوسنيو ځوانانو ته ګړندي موټر دي؛ چون ځوانان د ځوانۍ له غوښتنې سره سم، بيړه او سرعت خوښوي او له هغه سره د ځواک او اوچتوالي احساس کوي. او همدا اوس هم وينئ چې موټر ورځ تر بلې مجهزتر، سريعتر او ګړندي تر کوي. هاغه څوک چې اوس ددې موټرو په جلو کښېني، يو ډول د خپل ځان د اوچتوينې او غرور احساس ورته پيدا کېږي. په هر حال، وايي انسان د خپل پالونکي څښتن په نسبت پخ او لټ دی خو: وَإِنَّهُ لِحُبِّ الْخَيْرِ لَشَدِيدٌ. او سخت د زړه له تله، په پرله پسې توګه په خپلو ګټو پسې دی.

پورتني آيتونه چې د سورت د پيل سوګندونو ځواب دی، په څرګنده توګه، په آګاهانه توګه د انسان ناشکري، بې همتي، سترګې پټونې، له سره اړونې، لټي، او پخ چاري په هاغو چارو کې

چې د هغه په پالونکي ښښتن [رب] پورې اړوند دي او د انساني ودې او روزنې او کمال لامل کيږي، ځرګندوي، ولې؟ ځکه چې زړه يې په محبوب مين او دهغه لور ته مايل او خالص نه دی، په داسې حال کې چې همدا انسان پر «آس» ډېر مين او زړه بايللی دی، ځکه چې آس يو چټک خوځنده او ګړندی مرکب دی او د هغه جسم په بېړه د مادي پرمختګ او ګړنديتوب او لوټمارۍ لور ته رسوي [چې دا مرکب، پر پالونکي ښښتن د ايمان د مرکب په مقابل کې دی، حال دا چې د ايمان مرکب د هغه روح د پرمختګ او ګړنديتوب په ډګرونو کې د الهي مغفرت او رحمت پر لور لېږدوي] (و انه لحب الخير لشديد).

اوس که له وړاندوينې او پر پخوانيو نظرياتو له زړه تړلو او له مخکښې نښاوه پرته، پخپله فکر وکړو، او بيا قضاوت وکړو چې آيا «د مجاهدينو پر آسونو» سوګند له پورتنيو مطلبونو سره ډېر تناسب لري يا که «د عربانو پر غارتګرو لوټمارو سارايي آسونو» سوګند؟

که له اسلامه مخکې د جاهليّت په پَير کې د عربستان تاريخي او جغرافيايي شرايط په نظر کې ونيسو، خشن او زيږه خلک، به ومومو چې د انساني احساس او عاطفي له نه شتون سره غارتګر، لوټمار او وينه بهوونکي دي چې کار يې له يوه سره پر ګاونډيو قبيلو شبخون، يرغل او د هغوی لوټ کول دي، بېوزلي او تنګلاسي او په بېديا کې ژوند کول د هغه له ټولو محروميتونو سره چې له يو لوري يې د غرور، غيرت، شجاعت، عزت، زړورتيا او ... خصلتونه په دوی کې پاللي ول. او له بل لوري يې، د خشونت، عداوت، ځناورتوب، تکبر، ظلم، غارتګرۍ او لوټمارۍ، تجاوز او تېري خصلتونه په دوی کې غوړولي او پاللي دي.

نو اوس دا راز خلک، الهي پيغام او د هغه د استازي دعوت او بلنې ته مخاطب شوي دي چې ښايي له جهالت، ضلالت، تورتم، دښمنۍ، او د آس، وسلې، اوښ او توري له مينې را بهر شي او د خپل پالونکي ښښتن د هدايت، رحمت او محبت له «نور» سره آشنا شي. او د ايمان او صالح عمل د لېږدوونکي [او مرکب] په توسه «اعلی عليين» ته سفر وکړي.

دا ځرګنده ده چې هاغه کسان چې له آس او وسلې سره روږدي دي، په آسانۍ د غرور او غفلت له مرکب ځخه نه راکوزيږي او د «خير» [آس يا بل هر ښه او ګټور ځيز] مينه د پالونکي ښښتن «رب» په مينه نه پلوري. دا سورت چې د بعثت په دريم کال کې نازل شوی دی [د سير تحول قرآن کتاب د ۱۵۰ نمبر جدول پر آساس] له داسې خلکو سره مخامخ دی، چې د الهي کارونو لپاره پخ، لټ او لاأُبالي دي، او د دنيايي کارونو لپاره [په ګاونډيو قبيلو بريد، يرغل او لوټمار ته] چست او چالاک، ګړندي او چټک، بيدار او هوښيار دي.

هاغه څه چې په دې سورت کې څرګند شوي له يوه ځانګړي مکان او زمان څخه څرګنده او مشخصه نمونه ده چې «آس» له هنرمندانه حرکتونو سره، د بريد او يرغل کولو د پرشهار او سونږهار او شنهار له آهنګ سره، چې د ځغل او تاخت پر مهال د سُمونو سپرغۍ او د لوټمارۍ پر مهال ګرد او دوړې يې چې په بېړه او ګړندۍ توګه د دښمن په منځ کې ننوزي، دستړو او لټانو وګړو زړونه د خدای پر ځای خپلې لور ته جذبوي، خو لکه څنګه چې مو وويل «خير» يوازې آس ته منحصر نه دی، د خير مصداق په مختلفو زمانونو او مکانونو کې متفاوت دی، هر هاغه څه چې مفيد او ګټور وي انسان هغه «اختيار»وي او د څيزونو له منځه يې غوره کوي، که کوم «خير» چې يې «اختيار» کړی د هغه لپاره ارزښت او اصالت پيدا کوي، او د هغه محبت يې خپلې لور ته کشوي، که څه هم د آس پر ځای، موټر او د اوښ پر ځای دنډې او د کيږدۍ پر ځای کور د هغې ځای نيولی وي.

آيا ددې سورت مضمونونه يوازې دصدر اسلام يا د جاهليت د دوران سړو ته پاملرنه او توجه لري؟ په رښتيا تر کومه بريده موږ خپل ځان ددې سورت تلپاتې ګواښونو ته مخاطب ګڼو؟!

پالونکی څښتنه! د مختلفو «خير»ونو له منځه چې تا نازل کړي دي، ايمان زموږ د زړونو محبوب او د قلب زينت وګرځوه چې د «خير» د غوراوي په ازميښت کې هاغه غوره کړو چې ستا رضايت دی.

پالونکی څښتنه! موږ په خپله مينه او محبت کې دا راز مشتاق کړه چې جاذبه يې، شيطاني ميني او محبتونه زائل کړي او ستا په نسبت زموږ «کَنُود»والي ته ګړندي والی او د ايمان او صالح عمل پر لور بېړه او پرمختګ راوبښي.

---

۷ ـ «کنود»، د «کَنَدَ» له مادې، د بېخيرۍ او ناشکرۍ مفهوم لري. ظاهراً مفسرين او ژبپوهان د دې کليمې په معنا کې کوم تفاهم او توافق ته نه دي رسيدلي، ګواکې اصلي ريښه يې همدا کُند د پارسي په ژبه کې ده چې عربي ژبې ته وارد شوی دی. مختلفې معناګانې چې د کنود لپاره يې ګڼلې دي، هره يوه يې له يوې زاويې او اړخه پر پخوالي، لټۍ او لږ برخمن کېدو دلالت کوي. لکه: هاغه ځمکه چې په هغې کې څه څيز نه زرغونيږي، هاغه څوک چې نعمتونه هيروي او له مصيبتونو سورې نارې کوي، هاغه څوک چې بخيل دی. په دې سورت کې د کنود صفت بايد د هاغو اوصافو په مقابل کې و انګېرل شي چې څلورو لومړنيو آيتونو د چابکو ځغلندو آسونو په اړه څرګند کړي دي؛ هاغه انسانان چې د خپلو شخصي ګټو لپاره داسې چست او چالاک او ګړندي دي، د الله په لار کې د خيريه چارو لپاره ډېر يخ او لټ دي.

۸ ـ د سوګند له یو «واو» او د تفریع له څلورو «فاء» ګانو سره [له ۲ تر ۵ آیتونو په پیل کې]، او ورپسې دریې ځله د «اِنَّ» ټینګار [ د ۶ تر ۸ آیتونو په پیل کې]، د پالونکي څښتن په نسبت د انسان له ناشکرۍ قاطعانه نتیجه اخېستنه، د هغه شخصي منافعو ته د شدید اشتیاق پرخلاف، او هم پر دې چاره یې ګواه والی وړاندي کوي. له خیر څخه مقصد، هر مال او غوره شوی څیز او مطلوب دی چې انتخاب او خوښ شوی وي، خیر په قرآن کې د شرّ په مقابل کې راغلی دی.« إِنَّ الْإِنْسَانَ خُلِقَ هَلُوعًا. إِذَا مَسَّهُ الشَّرُّ جَزُوعًا. وَإِذَا مَسَّهُ الْخَيْرُ مَنُوعًا» [معارج ۱۹(۷۰:۱۹) تر ۲۱].

دا هم د یادولو وړ ده چې آس د عربانو لپاره ډېر اوچت او بهترین لېږدوونکی او مرکب ګڼل کېده، سره ددې چې پالل او ساتل یې په استوایي سیمو کې چې له شنو او زرغونو ورشوګانو څخه لېرې دي یوازې اشرافو ته ځانګړې ګڼل کېدل، او هغه یې «خیر» نوماوه، لکه څنګه چې سلیمان (ع) ته د آسونو د وړاندې کولو په داستان کې راغلي دي: « إِذْ عُرِضَ عَلَيْهِ بِالْعَشِيِّ الصَّافِنَاتُ الْجِيَادُ فَقَالَ إِنِّي أَحْبَبْتُ حُبَّ الْخَيْرِ عَنْ ذِكْرِ رَبِّي حَتَّى تَوَارَتْ بِالْحِجَابِ» [ص ۳۱(۳۸:۳۱) او ۳۲]. د «خیر» د «وینې» انتخاب، د مال، ګټو، او ددې په څېر نورو څیزونو پر ځای په داسې یو سورت کې چې خبره د آس د حیرانوونکو حرکتونو څخه ده، پر ادبي ظرافت او لطافت دلالت کوي.

---

أَفَلَا يَعْلَمُ إِذَا بُعْثِرَ مَا فِي الْقُبُورِ﴿۹﴾

آیا نه پوهېږي هاغه مهال چې تر خاورو لاندې پراته [له داسې کړنلیک سره] را پاڅول شي،[(۹)] [= پټ حقیقتونه څرګند شي].

وَحُصِّلَ مَا فِي الصُّدُورِ﴿۱۰﴾

او هاغه څه چې په سینو کې دي [= د انسان صفتونه او لاسته راوړنې] حاصل [او رابرسېره] شي[(۱۰)] [= د خپل عمل او کړنو حاصل او مېوه ورکړې]،

إِنَّ رَبَّهُمْ بِهِمْ يَوْمَئِذٍ لَخَبِيرٌ﴿۱۱﴾

بې له شکه پالونکی څښتن یې په هاغه ورځ کې پردې[د کړنو پر تفصیل]پوره خبر دی.

| أَفَلَا يَعْلَمُ | إِذَا | بُعْثِرَ | مَا | فِي الْقُبُورِ | وَحُصِّلَ | مَا | فِي الصُّدُورِ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| نو آیا هغه نه پوهېږي | هغه مهال چې | را پورته شي | هاغه چې | په ګورونو کې دي | او ښکاره شي | هاغه چې | په سینو کې دي |

| إِنَّ | رَبَّهُمْ | بِهِمْ | يَوْمَئِذٍ | لَخَبِيرٌ |
|---|---|---|---|---|
| ببشکه | پالونکی څښتن یې | پر دې | پر هغه ورځ | ښه خبر دی |

---

او په پای کې د سورت درې پایاني آیتونه له نهم څخه تر یوولسم آیته رټنیز ډوله پوښتنې دي، [۴ تر ۶ کلیمه اي جملې چې د «ر» په توري پای ته رسیږي].

أَفَلَا يَعْلَمُ إِذَا بُعْثِرَ مَا فِي الْقُبُورِ. دلته د سورت په پای کې، يو ناڅاپه د کلام آهنګ عوض کيږي او د دريو مخکينيو آيتونو پر خلاف، خبره د دريو نورو آيتونو په توسه، چې وزن او مضمون يې ورسره توپير لري. خو دا درې واړه هر يو له ورته پاياني کلېمې سره چې د «ر» په توري ختميږي، پای ته رسوي.

أَفَلَا يَعْلَمُ نو آيا انسان نه پوهيږي إِذَا بُعْثِرَ مَا فِي الْقُبُورِ. چې هاغه څه چې په قبرونو کې دي يوه ورځ ښکاره او څرګنديږي. « بُعْثِرَ » د «بعْثرةُ» له ريښې [د منْقبةُ پر وزن] په اصل کې، لاندې باندې کول او بيرون را ايستل او استخراج کول دي او لکه څنګه چې د مړو د بيا ژوندي کولو پر مهال، قبرونه لاندې باندې کېږي، او هر هاغه څه چې پکې دننه دي راڅرګنديږي. دا تعبير چې په دې آيت کې د قيامت په اړه کارول شوی دی، په حقيقت کې د بخل او ناشکرۍ د بيمارۍ لپاره د درمل په توګه د اخروي ډار او وېرې په بڼه بيان شوی دی.
آيا انسان نه پوهيږي، چې د قيامت په ورځ کې چې کله له قبرونو څخه مړي راپاڅول شي او د زړونو ټولې پټې خبرې او پټ رازونه ښکاره او بربنډ شي پر هاغې ورځ به د هغه پالونکی ښښتن د هغه له ټولو پټو او ښکاره کړنو، عملونو او فکرونو څخه خبر وي او هر چاته به د هغه د کړنو سره مناسبه او عادلانه پوره جزا ورکړل شي.

د «بُعْثِرَ» فعل چې ځينو ژبپوهانو اټکل ورکړی دی چې کېدی شي د بُعِثَ او أُثِيرَ دوو مجهولو فعلونو ترکيب وي، د خاورې له زړه د انسان د وجودي ذرو د ولاړيدو او خپريدلو بيانوونکی دی، يعني مطلب يې بعث او نشر دی، لکه څنګه چې د انفطار په سورت کې هم راغلي دي: «وَإِذَا الْقُبُورُ بُعْثِرَتْ» [انفطار۴ (۸۲:۴)]. او کله چې قبرونه لاندې باندې [او ښورول] شي [وڅېړل، پر انېستل او راښکاره شي]. [قبر= تر خاورو لاندې د سلولي اطلاعاتو پټنځای].
په «مَا فِي الْقُبُور» تعبيرول [له دې پاملرنې سره چې «ما» معمولاً د غير ذوی العقول لپاره راځي] پر هاغه حالت نظر لري چې مړي يې لا لري، يعني جسد يې په غير ذيروح اجزاو تجزيه شوی دی . او يا د هاغه ابهام له لامله دی چې پر هغوی حاکم دی، چې لامعلومه او ښکاره نه دي، څه ډول وګړي دي؟
دلته د «قبر»کليمه په هاغه معنا چې موږ يې تصور کوو، نه ده. په کومه چې موږ پوهيږو، دا د هغه عرفي معنا ده او که نه ډېری چې مري، جسدونه يې په ګورونوکې نه ايښوول کېږي، مثلاً په درياب کې غرقيږي يا جسد يې سوزول کيږي، ايري کيږي يا ځينې هم د داړونکو خوراک شي. په قبر کې هستون د يو کس له مرګه وروسته د هغه له پټېدلو او پناه کېدلو څخه کنايه ده.

په بله وينا، په واقعيت کې انسان له مرګه وروسته د طبيعت په ګور کې ښخيږي. د بدن سلولونه يې په طبيعت کې محو کيږي او د نورو مادو له اجزاؤ سره ګډيږي. په حقيقت کې که د يو مړي له ښخولو وروسته څو کلونه تېر شي نو د هغه له ګوره کوم اثر نه پاتې کېږي. د خاورې سره مښودنه او نور طبيعي عاملونه په ټوليزه توګه هغه له منځه وړي. پر دې بنا مطلب يې دا قبر چې موږ ګومان کوو، نه دی.

نو لکه څنګه چې مو وويل دا څرګنده ده چې له اوږدو کلونو وروسته وراسته شوي هډوکي او غړي او د انسان وجودي برخي او د قبر د ځمکي ځای پر ځايوالی باقي نه پاتې کيږي، نو بايد له قبر څخه مقصد، د ځمکې پټخونه او دننځی وي چې د بدن تجزيه شوي يويختونه [سلولونه] پکې ښخ دي. يعنې مړ شوی انسان چې هر چرته په هر حالت کې دی له هماغه ځايه را ايستل کيږي ذرات يې راټوليږي او د يو ژوندي انسان په توګه پاڅول کېږي. نور آيتونه هم پر دې ولاړېنې او راوتنې دلالت کوي. له هغې جملې:

«وَنُفِخَ فِي الصُّورِ فَإِذَا هُمْ مِنَ الْأَجْدَاثِ إِلَى رَبِّهِمْ يَنْسِلُونَ»[يس ۵۱(۳۶:۵۱)]، او په صور[شپېلۍ]کې به پوکی وکړی شي او هاغه مهال به له خپلو مړستونونو[قبرونو]د خپل پالونکي څښتن پر لور په بيړه ځغلي.

«خُشَّعًا أَبْصَارُهُمْ يَخْرُجُونَ مِنَ الْأَجْدَاثِ كَأَنَّهُمْ جَرَادٌ مُنْتَشِرٌ » [قمر ۷(۵۴:۷)]. [په هاغه ورځ کې له وحشته يا د ګناه له شرمه] په ټيټو سترګو له مړستونونو [قبرونو] څخه لکه د خپرو ورو ملخانو په څير [چې د مهاجرت او يرغل په ګڼه ګوڼه کې وي] راوځي.

له قبرونو څخه د راپاڅېدلو خبره چې کومه صحنه او ننداره تمثيلوي ډېره زيره، لواړه، سخته، وېښوونکي او نېغوونکي صحنه ده. د ټولو هاغو کسانو ژوندي کېدل او له ګورونو څخه يې سر را ايستل چې په ګورونو کې پراته دي. د ژوند ې کېدلو او له ګورونو څخه د سر را ايستلو بيان د دغو کليمو په توسه د ډېر ې هېښتيا او حيرانتيا پاروونکی دی. له سينو څخه د پټو رازونو او اسرارو لاسته راوړل چې انسان د هغوی د پټولو لپاره سخت بخل کړی او هغه يې د نورو له سترګو لېرې ساتلي دي. دا يو داسې چاپېريال انځوروي چې په ټوله کې دوړې او ګرد، ډار او هيجان، زيږوالی او نا هموارې څرګندوي!

ښه نو،آيانه پوهيږې چې يوه ورځ به انسان دطبيعت له پټو مکانوڅخه بيرون راوځي: وَحُصِّلَ مَا فِي الصُّدُورِ.او هغه مهال هر هغه څه چې په سينو کې يې دي حاصل او ښکاره به شي؟

د «وَحُصِّلَ مَا فِي الصُّدُورِ» جمله يوه لطيفه جمله ده هاغه محصول ته چې د مېوو ونې يې له خاورې او نور څخه د اوبو او عضوي موادو او له هوا څخه د اکسيجن له جذبولو وروسته وړاندې کوي. د انسان سينه هم د پټو رازونو صندوق او د هغه د انګېزو، انګېزو، وينا او چلند نغاړونکی لوښی دی چې د هغه شخصيت ته ورو ورو تحقق ورکوي.

«حُصِّلَ» د «تحصيل» له مادې په اصل کې له «پوټکي» څخه د «مغز» د را ايستلو په معنا دی، همدا راز د کانونو تصفيه، او له کاني ډبرو څخه د طلا او ددې په څېر د ورته څيزونو په را ايستلو اطلاق کېږي، او وروسته بيا په پراخه معنا يعنې مطلقاً د استخراج او بېلولو لپاره کارول کېږي. په دې آيت کې ترې مطلب د ټولو ښو او بدو کړنو راوتل او بېلول دي.

يعنې په زړونو کې چې کومې ارادې او نيّتونه، غرضونه او مقصدونه، خيالونه او فکرونه او د ښکاره او څرګندو کړونو تر شا يې ناڅرګند او باطني تحرکونه، هڅونې او لمسونې (Motives) پټې دي هغه ټول به راڅرګند او پرانېستل شي او مخې ته به کېښوول شي او څېړنه به يې وشي او د قرآن په تعبير چې: « يَوْمَ تُبْلَى السَّرَائِرُ» [طارق ۹(۸۶:۹)] [په] هاغه ورځ کې، چې [د انسان] پټ رازونه ښکاره [او را برسېره] کېږي.

د انسان يوه ستره کمزوري داده چې د خپلو هر راز کړنو لپاره د جواز موندلو هڅه کوي او د تر ټولو د غوره او بهترې پلمې او هڅونې په لټه کې وي، چې د هغې په توسه هم د خپل ضمير د مطمئن کولو کوښښ کوي او هم د خپل ځان په اړه د نورو د منفي رايو او نظرياتو څخه مخنيوی کوي دا آيت د انسان د دغې کمزورۍ او چالاکۍ او هوښيارتيا په اړه پاملرنه لري او په توسه يې چالاک او په اصطلاح هوښيار انسانان خبر کړي دي چې په هاغې ورځ به د دغو کړنو او عملونو له ريکارډ سره سره د هغوی د انګېزنو او انګېزو، هڅونو او لمسونو، خيالونو او فکرونو، او په پټه د جوړو شوو نقشو او پلانونو ټول ريکارډ به هم د هغه او د هغه د پالونکي څښتن پر وړاندې وي.

نو لکه څنګه چې پوهېږو چې د ونې مېوې ته «محصول» وايي. دلته هم يعني يوه ورځ به انسان ووينې کومې هڅې يې چې کړې محصول به يې، او په بله وينا دا چې د خاورې له دننه يې غذايي مواد اخېستي، له لمره يې انرژي اخېستې، له هوا يې اکسيجن اخيستی او لنډه دا چې ټولې کړنې او اغېزې چې طبيعت او د هغه مختلفو عناصرو درلودلي پايله يې څه وه. د هغه د وجود مېوه او حاصل به په هغې ورځ څرګند شي.

وَحُصِّلَ مَا فِي الصُّدُورِ. «مَا فِي الصُّدُورِ» «هاغه څه چې په سينو کې دي» دا يوه تشبيه ده او مقصد يې د سينې پنجره نه ده. دا هاغه تعبيرونه دي چې قرآن يې خپل ځانګړي انداز سره کاروي، ددې لپاره چې خپل موخه او مقصد په بشپړه توګه بيان کړي، مينه او محبت، هيله او ايمان، کبر او حسد، حرص او کينه او لنډه دا چې د انسان ټول ښه او بد احساسات چې د هغه په سينه او زړه کې دي، هاغه مهال چې دا ټول ښکاره او برملا شي، نو په هاغه ورځ کې به معلوميږي چې هر، هر چا څه کړي څه يې لاسته راوړي دي او د کړنو چارليک يې څه دی، ځکه چې هاغه ټول به عينيت ومومي، رابرسېره، بربنډ او ښکاره به شي. نو وايي چې:

آيا نه پوهيږي چې څه به کيږي هغه مهال چې داسې وشي؟ ... آيا نه وايي چې په څه څيز پوهيږي؟ له دې حالت څخه پوهه او آګاهي په ځانله توګه کافي ده چې د انسان حس او شعور ته ټکان ورکړي او ويې لړزوي. نو ځکه په دې حالت کې انسان پرېږدي چې د ځواب په لټه کې شي، او په هر مطلوب او مقصود پسې وګرځي، او هاغه اغېزې او پايلې چې کېدی شي له دې لړزېدو او ټکانونو سره مل وي په خپل خيال او تصور کې انځور کړي!

دا غورځنګونه، لړزېدنې، ښوروونکي او پاخوونکي ټکانونه پايان ته رسي او آرام مومي، هر څيز آراميږي، هر کار نهايت ته رسيږي، او هره پايله او سرليک بربنډېږي، ښکارندېږي او پای ته رسيږي. ځکه چې:

إِنَّ رَبَّهُم بِهِمْ يَوْمَئِذٍ لَّخَبِيرٌ. دلته بيا هم «انَّ» د تأکيد او ټينګار لپاره دی، قطعاً، پرته له شکه، ستا رب، ستا پالونکی څښتن. ستا د اختيار خاوند او ستا ارباب بِهِمْ پر هغوی، يَوْمَئِذٍ په هاغې ورځ کې، لَّخَبِيرٌ مسلماً آګاه او خبردی، او له هر چا چې هر څه يې کړي دي د هغو په ټولو جزئياتو پوهيږي. يعنې پالونکی څښتن پر هاغه ورځ ډېر آګاه او خبير دی. موږ پر دې پوهيږو چې الله په هر مهال او هر زمان کې پر هر څه خبر او آګاه دی. او په هغې ورځ کې له آګاهۍ څخه يې په ځانګړې توګه له اشارې کولو څخه موخه داده چې په هاغې ورځ کې هر چا ته د هغه د عمل او کړنو په تناسب سزا ورکول کيږي او له هيچا سره بې عدالتي نه کيږي.

د کړنو او عملونو، هڅونو او پارونو، انګېزو او انګېرنو، فکرونو او خيالونو د ريکارډ په لړ کې دا و نه انګېرل شي چې د محرکاتو او هڅونو دارومدار په عمومي توګه د اټکلونو پر بنسټ کيږي، او چون په تخمين او اټکل کې هر مهال د غلطۍ امکان شتون لري نو کېدی شي د قيامت په ورځ کې کوم کس د اټکلونو د غلطۍ له مخې په بدې پايلې دوچار شي، پر دې اړه د

تنبيه او آګاهۍ په لړ کې فرمايي چې د قيامت په ورځ کې د داسې غلطۍ امکان نشته، ځکه پالونکي ښښتن اوس هم د خلکو د اعمالو او کړنو، هڅونو او لمسونو څخه په بشپړه توګه واقف او خبر دی او د قيامت په ورځ کې به هم آګاه او خبر وي. له همدې لامله هلته به د کړنو، لمسونو او هڅونو څېړنه د اټکل پر بنسټ نه بلکې د علم پر بنسټ وي.

البته وسمهال او د قيامت تر منځ دا توپير شته چې اوس يعنې په دنيا کې د هر چا د پټو رازونو او کړنو ښکاره کول د الله د حکمت پر خلاف دي، او د قيامت په ورځ کې به د الهي حکمت او عدل تقاضا او غوښتنه وي چې هر څيز څرګند او ښکاره شي، چې د کړنو او انګېرنو والا ټول پر دې پوه شي چې دده په اړه چې کومه فيصله کيږي د انصاف، عدل او نياو سره سمه ده او د حق پر بنسټ ولاړه او ټيکاو ده.

د قرآن په تعبير د ټولو ستنېدنه د الله پر لور ده؛ « ... إِنَّا لِلَّهِ وَإِنَّا إِلَيْهِ رَاجِعُونَ »، او پالونکی ښښتن يې په «هغه ورځ» کې د هغوی له احوال او اسرارو څخه په بشپړه توګه آګاه دی ... لکه څنګه مو چې وويل پالونکی ښښتن په هر حال کې له هغوی مطلع او آګاه دی. خو په «هغې ورځ» کې دا آګاهي يو لړ اغېزې او پايلې لري چې په دې لړ او ډګر کې د هغوی پاملرنه ورته را اړوي، چې دا آګاهي او خبرېدنه د نورو په څېر مه انګېرئ، دا جدې ونيسئ ځکه چې ددې آګاهۍ او خبرتيا پايله حساب او کتاب، جزا او سزا ده.

انسان چې نن ورځ تر دې بريده غافل، لټ او پڅ دي او پخپله هم پر دې پوهيږي او حاضر نه دی له خپلو دنيايي ګټو څخه تېر شي او ورپورې نښتی دی، آيا پاملرنه نه کوي چې يوه ورځ به يې د وجود ټول حاصل برملا او څرګند شي او ټول دننني رازونه به يې مجسم ورته په مخکې کېښوول شي، د کړنو او د چال چلند ليک به يې را برسېره شي؟ آيا نه پوهيږي چې په هاغه ورځ کې خدای تعالی په هر څيز پوهيږي او پر ټولو څيزونو ښه خبير دی؟

په حقيقت کې، زموږ حُکم د هاغه محصل په څېر دی چې د وروستي کال له ازموينې غافل دی او نه غواړي پوه شي چې يوه ورځ به ترې ازموينه واخېستله شي او پوه به شي چې څومره درس يې ويلی دی او پايليک به يې ورته څرګند شي او معلم هم په بشپړه توګه پوهيږي چې دا څه کاره دی او څومره درس يې ويلی، درس ويل يې څه کيفيت لري، او د کوم معيار پر بنسټ يې د ازموينې لپاره خواري او هڅه کړې ده. خو موږ نه غواړو پر دې حقيقت پوه شو، واقفيت حاصل کړو او په پايله کې خپله لار بدله کړو، او له کړو وړو سمې ته شو.

خَبير خداى ته له خپلې لتې، پخوالي، ناشکرۍ او غفلته پناه وړو په هاغې ورځې چې په مخکې يې لرو او چې د حُصِّلَ مَا فِي الصُّدُورِ ورځ ده او په هغې کې به زموږ چارليک او پاپليک او زموږ وجودي محصول موږ ته ښکاره کړي.

له الله غواړو چې موږ له پخوالي او لتې څخه وژغوري او په عوض کې يې موږ ته هاغه څه را په برخه کړي؛ چې د معنوياتو او عباداتو په لار کې د بيړې او ګړنديتوب توفيق پيدا کړو او په پخپله لار کې زموږ هڅه او پرمختګ زيات کړي او موږ د خپل حمايت، هدايت او حفاظت تر سيورې لاندې ونيسي. ان‌شاءالله.

صدق الله العليّ العظيم.

---

۹ ـ د «بُعْثِرَ» فعل چې ځينو ژبپوهانو اټکل ورکړی دی چې کېدی شي د بُعِثَ او أُثِيرَ دوو مجهولو فعلونو ترکيب وي، د خاورې له زړه د انسان د وجودي ذرو د ولاړېدو او خپرېدلو بيانوونکی دی، لکه څنګه چې د انفطار په سورت کې راغلې دي: «وَإِذَا الْقُبُورُ بُعْثِرَتْ» [انفطار۴ (۸۲:۴)].

دا څرګنده ده چې له اوږدو کلونو وروسته وراسته شوي هډوکي او غړي او د انسان وجودي برخې او د قبرې ځمکې ځای پر ځايوالی باقي نه پاتې کيږي، نو بايد له قبر څخه مقصد، د ځمکې پټنځونه او درونځی وي چې د بدن تجزيه شوي يويختونه [سلولونه] پکې خښ دي. نور آيتونه هم پر دې ولاړېنې او راوتنې حکايت کوي. له هغې جملې:

« وَنُفِخَ فِي الصُّورِ فَإِذَا هُمْ مِنَ الْأَجْدَاثِ إِلَى رَبِّهِمْ يَنْسِلُونَ » [يس ۵۱(۳۶:۵۱)]، «خُشَّعًا أَبْصَارُهُمْ يَخْرُجُونَ مِنَ الْأَجْدَاثِ كَأَنَّهُمْ جَرَادٌ مُنْتَشِرٌ » [قمر ۷(۵۴:۷)].

۱۰ ـ د « وَحُصِّلَ مَا فِي الصُّدُورِ » جمله يوه لطيفه جمله ده هاغه محصول ته چې د مېوو ونې يې له خاورې او نور څخه د اوبو او عضوي موادو او له هوا څخه د اکسيجن له جذبولو وروسته وړاندې کوي. د انسان سينه د پټو رازونو صندوق او د هغه د انګېزنو، وينا او چلن نغاړونکی لوښی دی چې د هغه شخصيت ته ورو ورو تحقق ورکوي. د کعبې د خونې په اړه د حضرت علي(رض) وينا ده چې: د زړونو مېوې له ډېرو لېريو لارو...د هغې پر لور بيره کوي «تَهوی اِلیهِ ثِمارُ الاَفئِدَه مِن...» [نهج البلاغه ۱۹۲ خبطه ۵۷ بند].

په معنوی مثنوی کې [پنځم دفتر پس له ۳۹۷۳ بيتونو] د مولوي ښکلې تشبيه د همدغه حال بيانوونکی ده:

رازها را ميکند حق آشکار  چون بخواهد رُست تخم بد مکار
آب و ابر و آتش و اين آفتاب  رازها را می برآرد از تراب
اين بهارِ نو ز بعد برگ ريز  هست برهان وجود رستخيز
در بهار آن سِرها پيدا شود  هر چه خوردست اين زمين رسواشود

بر دمد آن از دهان و از لبش تا پدید آید ضمیر و مذهبش
سِرّ بیخ هر درختی و خورش جملگی پیدا شود آن بر سَرَش
هرغمی کز وی تو دل آزرده ای از خمار می بود کان خورده ای
لیک کی دانی که آن رنج خمار از کدامین می برآمد آشکار؟
این خمار اشکوفه آن دانه است آن شناسد که آگه و فرزانه است

---

**یادونه:** ددې تشریح د لیکلو پر مهال لاندینیو سرچینو ته هم مراجعه شوې ده:

۱ ـ نظم قرآن ـ د عبدالعلي بازرګان لیکنه
۲ ـ آشنایي با قرآن ـ د مرتضی مطهري لیکنه
۳ ـ في ظلال القرآن ـ د سید قطب لیکنه
۴ ـ تفهیم القرآن ـ د سید ابوالاعلی مودودي لیکنه
۵ ـ قرآن حکیم [ترجمه و توضیحات فارسي] ـ عبدالعلي بازرګان
۶ ـ المیزان في تفسیرالقرآن ـ د سید محمدحسین طباطبائي لیکنه
۷ ـ کابلي تفسیر [قرآن کریم ترجمه او تفسیر ـ مولانا محمود الحسن دیوبندي
او علامه شبیر احمد عثماني] پښتو کوونکي : د عالمانو یوه ډله
۸ ـ پرتوی از قرآن ـ د سید محمود طالقاني لیکنه
۹ ـ تفسیر نمونه ـ د آیت الله مکارم شیرازي او ورسره د علماو د پلاوي لیکنه
۱۰ ـ تفسیر نور ـ د مصطفی خرمدل لیکنه
۱۱ ـ تابشي از قرآن ـ د سید ابوالفضل ابن الرضا برقعي لیکنه
۱۲ ـ تفسیر باران ـ د دکتور مهدي خُدّامیان آراني لیکنه
۱۲ ـ ترجمه تفسیر طبري ـ به اهتمام و تصحیح حبیب یغمائی
۱۳ ـ تفسیر ابن کثیر [حافظ عمادالدین ابوالفدا اسمعیل بن عمر ابن کثیر الدمشقي]
اردو ته ژباړه : مولا محمد جوناګړهي
۱۴ ـ معارف القرآن ـ د مولانا مفتي محمد شفیع لیکنه
۱۵ ـ تفسیر مصباحین (اردو) ترجمه و شرح تفسیر جلالین ـ لیکونکي : جلال الدین محلي او
جلال الدین سیوطي ـ اردو ته ژباړه او شرح: محمد لیاقت علي رضوي
۱۶ ـ تفسیر کمالین د جلالین تفسیر اردو شرح د : مولانا محمد نعیم دیوبندی
۱۷ ـ د قرآن عظیم الشان پښتو ژباړه ـ مولوي قیام الدین کشاف
۱۸ـ عزیزالتفاسیر ـ د قرآن کریم پښتو ترجمه او تفسیر ـ مولوي سلطان عزیز (عزیز)
۱۹ ـ صفوة‌التفاسیر ـ د محمدعلي الصابوني لیکنه ـ ژباړونکی: مولوي شمس الله کمال زاده
۲۰ ـ د قرآن پلوشې ـ د ګلب الدین حکمتیار لیکنه

۲۱ ـ تفسير ديوبندي ـ  د مولوي عبدالحنان لیکنه
۲۲ ـ حکمة القرآن ـ د مولوي امين الله پېښاوری لیکنه
۲۳ ـ تفسير ايوبي حنفي ـ د مولانا محمد عبيدالله ايوبي لیکنه
۲۴ ـ تفسير احسن الکلام ـ د مولوي عبدالسلام رستمي ليکنه
۲۵ ـ قرآن کريم په پښتو ـ د اجرالدين اقبال ژباړه
۲۶ـ شرحې بر سوره هاى قرآن ـ عبدالعلي بازرگان ـ د عبدالعلي بازرگان وېب پاڼه [bazargan.com]
۲۷ ـ تفسير روح القرآن ـ مؤلف ډاکتر مولانا محمد اسلم صديقي.
۲۸ ـ د قرآن ټکی په ټکی او روانه ترجمه ـ مولوي جانباز سرفراز
۲۹ ـ روح المعاني فى تفسيرالقرآن العظيم والسبع المثانى ـ العلامه ابى الفضل  شهاب الدين محمود الالوسى البغدادي
۳۰ ـ تفسير جواهرالقرآن ـ مولا حسين علي
۳۱ ـ تفسير روح البيان ـ شيخ اسماعيل حقى البروسوى